**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## پنځم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسی کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## پنځم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمیټې**

**لیکوال:** مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**سلاکاره کمیټه:**

۱_ دکتور احسان الله د اسلامي علومو د دیپارتمنت آمر.

۲_ سرمؤلف الحاج بسم الله بختیار د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

۳_ عبدالرقیب جهید د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۴_ سرمؤلف محمد انیس یونس د عربي ژبې او ادبیاتو د دیپارتمنت آمر .

۵_مولوي عبدالوکیل د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

٦_ مؤلف شیر احمد مسعودی د اسلامي علومو د دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۷_استاد رقیب الله ابراهیمي د اسلامي علومو د د پیارتمنت علمي او مسلکي غړی.

۸_مایل آقا متقي د اسلامي علومو د د پیارتمنت علمي او مسلکي غړی.

**د څېړنې او تدقیق کمېټه:**

۱_ پوهاند عبد السلام عظیمي قاضي القضات او د سترې محکمې رئیس.

۲_ قضاوت پوه استاد قیام الدین کشاف.

۳_ قاضي نذیر احمد حنفي د ولسي جرگې د تقنین کمیسیون مرستیال.

۴_ مولوي عبدالعزیز د ولسي جرگې د دیني ، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیون غړی .

۵_ کرامت الله صدیق د حج او اوقافو وزارت د تدقیق کمیسیون رئیس.

٦_ مولوي عین النعیم فیضي د علماؤ د سراسري شورا غړی .

۷_ مولوي عنایت الله بلیغ د علماؤ د سراسري شورا غړی .

**د محتویاتو، سیاسي، فرهنگي، او دیني برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټه:**

۱ - دکتور محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت لوی سلا کار.

۲ - محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.

د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی

سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:**

**رحمت الله غفاري او حمیدالله غفاري**

**د مطالبو فهرست**


| شماره | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | د قرآن کریم د زده کړې مضمون | ۱ـــــــــــــــــ۱۸ |
| ۲ | د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون : لومړی فصل : عقاید | ۱۹ـــــــــــــــــ۲۷ |
| ۳ | دویم فصل : فقه | ۲۸ـــــــــــــــــ۵۱ |
| ۴ | دریم فصل :اخلاق | ۵۲ـــــــــــــــــ٦٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن کریم د زده کړې مضمون
# د حفظ کولو برخه (۱)

**لومړی لوست:**

**د الفاتحه، الاخلاص، الفلق او الناس سورتونو مراجعه (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

## (د فاتحې سورت)

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾
الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾
مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ
﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ
عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

## د الناس سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ إِلَٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾
مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي
صُدُورِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د الفلق سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۱ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۲ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ۳ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ۴ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۵

## د الاخلاص سورت

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۱ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۲ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ
يُوْلَدْ ۳ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۴

**دویم لوست :**

**د المسد او النصر د سورتونو (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

## د المسد سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۱ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا
كَسَبَ ۲ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۳ وَّامْرَاَتُهٗ حَمَّالَةَ
الْحَطَبِ ۴ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د النصر سورت

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
اللّٰهِ أَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ۝٣

دريم لوست:

## د الکافرون سورت (حفظ, تلاوت سره له تجويد)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ يٰٓأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢
وَلَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤ وَ
لَآ أَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ أَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦

ثلورم لوست :

## د الکوثر او الماعون سورتونو (حفظ, تلاوت سره له تجويد)

## د الکوثر سورت

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د الماعون سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○
اَرَءَیۡتَ الَّذِیۡ یُکَذِّبُ بِالدِّیۡنِ ۱ فَذٰلِکَ الَّذِیۡ یَدُعُّ الۡیَتِیۡمَ ۲ وَ
لَا یَحُضُّ عَلٰی طَعَامِ الۡمِسۡکِیۡنِ ۳ فَوَیۡلٌ لِّلۡمُصَلِّیۡنَ ۴ الَّذِیۡنَ هُمۡ عَنۡ
صَلَاتِهِمۡ سَاهُوۡنَ ۵ الَّذِیۡنَ هُمۡ یُرَآءُوۡنَ ۶ وَیَمۡنَعُوۡنَ الۡمَاعُوۡنَ ۷

**پنځم لوست :**

**د قریش او الفیل سورتونو (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

## د قریش سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○
لِاِیۡلٰفِ قُرَیۡشٍ ۱ اٖلٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّیۡفِ ۲ فَلۡیَعۡبُدُوۡا
رَبَّ هٰذَا الۡبَیۡتِ ۳ الَّذِیۡۤ اَطۡعَمَهُمۡ مِّنۡ جُوۡعٍ ۙ وَّاٰمَنَهُمۡ مِّنۡ خَوۡفٍ ۴

## د الفیل سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ○
اَلَمۡ تَرَ کَیۡفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِاَصۡحٰبِ الۡفِیۡلِ ۱ اَلَمۡ یَجۡعَلۡ
کَیۡدَهُمۡ فِیۡ تَضۡلِیۡلٍ ۲ وَّاَرۡسَلَ عَلَیۡهِمۡ طَیۡرًا اَبَابِیۡلَ ۳
تَرۡمِیۡهِمۡ بِحِجَارَةٍ مِّنۡ سِجِّیۡلٍ ۴ فَجَعَلَهُمۡ کَعَصۡفٍ مَّاۡکُوۡلٍ ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږم لوست :**

**د الهُــمَــزه سورت له ( ١____٤) ایتونه (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ۙ (١) الَّذِىْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ۙ (٢)
يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗۤ اَخْلَدَهٗ ۚ (٣) كَلَّا لَيُنْۢبَذَنَّ فِى الْحُطَمَةِ ۖ (٤)

**اووم لوست :**

**د الهُمَزه سورت له( ٥____٩)ایتونه ( حفظ، تلاوت سره له تجوید)**

وَمَاۤ اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ۗ (٥) نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ۙ (٦) الَّتِىْ
تَطَّلِعُ عَلَى الْاَفْـِٕدَةِ ۗ (٧) اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ۙ (٨)
فِىْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ (٩)

**اتم لوست :**

**د العصر سورت اوتیرو شوو سورتونو (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

## د العصر سورت

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالْعَصْرِ ۙ (١) اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ ۙ (٢) اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ
عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم لوست :**

**د التکاثرسورت له ( ۱ــــ٤) ایتونه او تیرو شوو سورتونو (حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّىٰ زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوْفَ
تَعْلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٤﴾

**لسم لوست :**

**د التکاثر سورت له ( ۵ ــــ۸) ایتونه (حفظ تلاوت سره له تجوید).**

كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ ﴿٦﴾
ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ
عَنِ النَّعِيمِ ﴿٨﴾

# د تلاوت برخه (۱)

**یوولسم لوست:**

**د الشمس سورت له ( ۱ـــــــ۸ ) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ○
وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴿١﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا ﴿٢﴾ وَالنَّهَارِ إِذَا
جَلَّاهَا ﴿٣﴾ وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَاهَا ﴿٤﴾ وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنَاهَا ﴿٥﴾
وَالْأَرْضِ وَمَا طَحَاهَا ﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا
وَتَقْوَاهَا ﴿٨﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوولسم لوست :

### د الشمس سورت له ( ۹ــــ ۱۵ ) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)

قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ
ثَمُوْدُ بِطَغْوٰهَا ﴿١١﴾ إِذِ انْبَعَثَ أَشْقٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ
اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ
رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ﴿١٥﴾

## دیارلسم لوست:

### دالبلد سورت له ( ۱ــــ ۱۰ ) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
لَآ أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿١﴾ وَأَنْتَ حِلٌّ بِهٰذَا الْبَلَدِ ﴿٢﴾ وَوَالِدٍ وَّمَا
وَلَدَ ﴿٣﴾ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِيْ كَبَدٍ ﴿٤﴾ أَيَحْسَبُ أَنْ لَّنْ يَّقْدِرَ
عَلَيْهِ أَحَدٌ ﴿٥﴾ يَقُوْلُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا ﴿٦﴾ أَيَحْسَبُ أَنْ لَّمْ يَرَهٗ
أَحَدٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَّشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنٰهُ
النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثوارلسم لوست:

**د البلد سورت له ( ۱۱ـــــــ۲۰) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾
أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾
أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾ ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا
بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾
وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾

## دحفظ کولوبرخه (۲)

پنځلسم لوست:

د الفاتحــه، النــاس، الفلــق، الاخــلاص ، المــسد ، النــصر، الكــافرون، الكــوثر الماعون، قريش،الفيل، الهمزه، العصر او التكاثر سورتونو مراجعه.

شپاړسم لوست:

**د القارعه سورت له ( ۱ــــــ۵ ) ایتونه (حفظ, تلاوت سره له تجويد)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
الْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٣﴾
يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ
كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿٥﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووه لسم لوست :**

**دالقارعة سورت له ( ٦ــــــــ ١١) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٧﴾
وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ﴿٩﴾ وَمَا
أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةٌ ﴿١١﴾

**اتلسم لوست:**

**د العادیات سورت له ( ١ـــــ٦) ایتونه(حفظ, تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالْعَادِيَاتِ ضَبْحًا ﴿١﴾ فَالْمُورِيَاتِ قَدْحًا ﴿٢﴾ فَالْمُغِيرَاتِ صُبْحًا ﴿٣﴾
فَأَثَرْنَ بِهِ نَقْعًا ﴿٤﴾ فَوَسَطْنَ بِهِ جَمْعًا ﴿٥﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لِرَبِّهِ
لَكَنُودٌ ﴿٦﴾

**نولسم لوست :**

**د العادیات سورت له ( ٧ــــــــ ١١) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ ﴿٧﴾ وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ ﴿٨﴾ أَفَلَا يَعْلَمُ
إِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُورِ ﴿٩﴾ وَحُصِّلَ مَا فِي الصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم
بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيرٌ ﴿١١﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تلاوت برخه (۲)

شلم لوست:

**دالفجر سورت له ( ۱ــــــــ۸) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
وَالْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَّالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَالَّيْلِ إِذَا
يَسْرِ ﴿٤﴾ هَلْ فِيْ ذٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِيْ حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ
رَبُّكَ بِعَادٍ ﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ﴿٧﴾ الَّتِيْ لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا
فِي الْبِلَادِ ﴿٨﴾

یو ویشتم لوست :

**د الفجر سورت له ( ۹ــــــــ۱٤) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي
الْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ طَغَوْا فِي الْبِلَادِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوْا فِيْهَا
الْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾
إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾

دوه ویشتم لوست:

**د الفجر سورت له ( ۱۵ــــــ۲۰) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

فَأَمَّا الْإِنْسَانُ إِذَا مَا ابْتَلٰهُ رَبُّهٗ فَأَكْرَمَهٗ وَنَعَّمَهٗ فَيَقُوْلُ
رَبِّيْٓ أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ابْتَلٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهٗ
فَيَقُوْلُ رَبِّيْٓ أَهَانَنِ ﴿١٦﴾ كَلَّا بَلْ لَّا تُكْرِمُوْنَ الْيَتِيْمَ ﴿١٧﴾
وَلَا تَحٰٓضُّوْنَ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿١٨﴾ وَتَأْكُلُوْنَ التُّرَاثَ
أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾ وَّتُحِبُّوْنَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

درويشتم لوست :

د الفجر سورت له ( ٢١ ـــــ ٢٤ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ
صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاْىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ
يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ
يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴿٢٤﴾

څليريشتم لوست:

د الفجر سورت له ( ٢٥ ـ ٣٠ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد).

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ
وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾
ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ﴿٢٩﴾ وَٱدْخُلِى جَنَّتِى ﴿٣٠﴾

## د حفظ برخه (٣)

پنځه ويشتم لوست :

دلاندې حفظ شوو سورتونومراجعه: الفاتحه ، الناس ، الفلق ، الاخلاص المسد ، النصر ، الكافرون ، الكوثر ، الماعون ، قريش ، الفيل ، الهمزه ، العصر التكاثر، القارعه او العاديات. تلاوت او تجويد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ويشتم لوست:

**د الزلزلة سورت له ( ١ ــــــــ ٥) ايتونه (حفظ, تلاوت سره له تجويد)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿١﴾ وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿٢﴾
وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا ﴿٣﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿٤﴾ بِأَنَّ
رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ﴿٥﴾

اوه ويشتم لوست:

**د الزلزلة سورت له ( ٦ ــــــــ ٨)ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿٦﴾ فَمَنْ
يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿٧﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ
ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿٨﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تلاوت برخه (۳)

اته ویشتم لوست:

**د الغاشیه سورت له ( ۱ـــــــ ۱۱) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوْهٌ يَّوْمَىٕذٍ خَاشِعَةٌ ﴿٢﴾ عَامِلَةٌ
نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلٰى نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقٰى مِنْ عَيْنٍ اٰنِيَةٍ ﴿٥﴾ لَيْسَ
لَهُمْ طَعَامٌ اِلَّا مِنْ ضَرِيْعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ ﴿٧﴾
وُجُوْهٌ يَّوْمَىٕذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِيْ جَنَّةٍ
عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾ لَّا تَسْمَعُ فِيْهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾

نه ویشتم لوست:

**د الغاشیة سورت له ( ۱۲ـــــــ ۲۰) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

فِيْهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيْهَا سُرُرٌ مَّرْفُوْعَةٌ ﴿١٣﴾ وَّاَكْوَابٌ
مَّوْضُوْعَةٌ ﴿١٤﴾ وَّنَمَارِقُ مَصْفُوْفَةٌ ﴿١٥﴾ وَّزَرَابِيُّ مَبْثُوْثَةٌ
﴿١٦﴾ اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَاِلَى السَّمَآءِ
كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَاِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَاِلَى الْاَرْضِ
كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دپرشم لوست :**

**د الغاشية سورت له ( ٢١ ـــــــــ ٢٦ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن
تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾
ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

**يو دېرشم لوست:**

**د الاعلى سورت له ( ١ ــــــ ٩ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
سَبِّحِ ٱسْمَ رَبِّكَ ٱلْأَعْلَى ﴿١﴾ ٱلَّذِى خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِى قَدَّرَ
فَهَدَىٰ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِىٓ أَخْرَجَ ٱلْمَرْعَىٰ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحْوَىٰ ﴿٥﴾
سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴿٦﴾ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا
يَخْفَىٰ ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٨﴾ فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٩﴾

**دوه دېرشم لوست :**

**د الاعلى سورت له ( ١٠ ـــــــ ١٩ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ ﴿١٠﴾ وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلْأَشْقَى ﴿١١﴾ ٱلَّذِى يَصْلَى ٱلنَّارَ
ٱلْكُبْرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾
وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾ بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿١٦﴾
وَٱلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ هَٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ
إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دري د ېرشم لوست :**

**دالطارق سورت له ( ١ـــــــ١٠ ) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
وَالسَّمَاءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾
النَّجْمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِن كُلُّ نَفْسٍ لَّمَّا عَلَيْهَا حَافِظٌ ﴿٤﴾
فَلْيَنظُرِ الْإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ ﴿٦﴾
يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ ﴿٧﴾ إِنَّهُ عَلَىٰ رَجْعِهِ
لَقَادِرٌ ﴿٨﴾ يَوْمَ تُبْلَى السَّرَائِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُ مِن قُوَّةٍ وَلَا
نَاصِرٍ ﴿١٠﴾

**څلورد ېرشم لوست:**

**د الطارق سورت له ( ١١ـــــ١٧ ) ایتونه (تلاوت سره له تجوید).**

وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ﴿١١﴾ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ﴿١٢﴾
إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِالْهَزْلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ
كَيْدًا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيْدًا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ الْكَافِرِينَ
أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا ﴿١٧﴾

**پنځه د ېرشم لوست:**

**د تیـرو حفـظ شـوو سـورتونومراجعه: الفاتحـه ، النـاس ، الفلـق ، الاخـلاص، المسد ،النـصر، الکـافرون، الکـوثر، المـاعون، قـریش، الفیـل، الهمـزه، العـصر، التکاثر، القارعه، العادیات او الزلزلة.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږد پرشم لوست:**

**د البروج سورت له ( ۱ ــــــ ۹) ایتونه (تلاوت سره له تجوید)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝
وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝١ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝٢ وَشَاهِدٍ
وَّمَشْهُوْدٍ ۝٣ قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۝٤ النَّارِ ذَاتِ
الْوَقُوْدِ ۝٥ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۝٦ وَّهُمْ عَلٰى مَا يَفْعَلُوْنَ
بِالْمُؤْمِنِيْنَ شُهُوْدٌ ۝٧ وَمَا نَقَمُوْا مِنْهُمْ اِلَّآ اَنْ يُّؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ
الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ۝٨ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَ
اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝٩

**اووه دیرشم لوست:**

**د البروج سورت له ( ۱۰ ــــــ ۱۳) ایتونه (تلاوت سره له تجوید).**

اِنَّ الَّذِيْنَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوْبُوْا
فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيْقِ ۝١٠ اِنَّ الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا
الْاَنْهٰرُ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيْرُ ۝١١ اِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ
لَشَدِيْدٌ ۝١٢ اِنَّهٗ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيْدُ ۝١٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اته د يرشم لوست :**

**د البروج سورت له ( ١٤ـــــــــ ٢٢ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ ﴿١٤﴾ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ﴿١٥﴾ فَعَّالٌ لِّمَا
يُرِيدُ ﴿١٦﴾ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ ﴿١٧﴾ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ﴿١٨﴾
بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي تَكْذِيبٍ ﴿١٩﴾ وَاللَّهُ مِن وَرَائِهِم مُّحِيطٌ ﴿٢٠﴾
بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾

**نه د يرشم لوست :**

**د الا نشقاق سورت له ( ١ ـــــــ ٩ ) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

أعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا
الْأَرْضُ مُدَّتْ ﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ
لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يَا أَيُّهَا الْإِنسَانُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ
كَدْحًا فَمُلَاقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ﴿٧﴾
فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰ أَهْلِهِ
مَسْرُورًا ﴿٩﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلويښتم لوست:**

**د الانشقاق سورت له (۱۰ــــ۱۹) ايتونه ( تلاوت سره له تجويد)**

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوا
ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا
﴿١٣﴾ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ
بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾
وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾ لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾

**يوڅلويښتم لوست:**

**دالانشقاق سورت له ( ۲۰ ـــــــــ ۲۵) ايتونه (تلاوت سره له تجويد)**

فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾
بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾
فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا
ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

تكرار:

د تيرو حفظ شوو سورتونو: الفاتحه، الناس، الفلق، الاخلاص، المسد ، النصر، الكافرون، الكوثر، الماعون، قريش، الفيل، الهُمَزه، العصر، التكاثر، القارعه، العاديات او الزلزلة،تكرار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي ښوونې او روزنې مضمون
## لومړی فصل

لومړی لوست

## عقاید

### د فاتحې سورت

سریزه:
شروع کوم په نوم د الله چې ډیر مهربان او زیات رحم کوونکی دی.
د فاتحې سورت: په ام الکتاب او ام القران سره هم یاد شوی دی.
په مکه مکرمه کې نازل شوی او د لاندې مطالبو لرونکی دی: ستاینه د الله تعالی عظمت او د هغه ستایل په هغو صفتونو باندې چې په عظمت، قدرت، حکمت، تدبیر، شان اوشوکت، جلال، د ملک وسعت، لطف او رحمت د الله تعالی باندې دلیل دي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِینْ(۱)

ترجمه: ټوله ثنا او ستاینه یوازی الله لرَه دَه چې دټولو کا یناتو پالونکی دی.
تفسیر: دکمال ټول صفتونه او ستاینې دازل څخه ترابده پورې هغه که د لمانځه په شکل کې وي او یا د دعا او اذکارو او یا نورو صورتونو سره وي. دالله تعالی دشان سره وړ او یوازې د الله تعالی ذات یې لایق دی؛ ځکه چې الله تعالی دټول عالم پیداکوونکی او پالونکی دی.

اَلرّحْمٰنِ الرّحِیمِ(۲) مَالکِ یَوْمِ الدّین(۳)

ترجمه: هسی الله تعالی چې ډیر مهربان، زیات رحم لرونکی، او د جزاء د ورځې مالک دی.
تفسیر: ټولې ثناوې او ستاینې دالله تعالی په ذات پورې خاصې دي، چې د ټول عالم تربیه کوونکی، ډېر مهربان او زیات رحم لرونکی دی. د دین ورځ د قیامت ورځ ده په دی ورځ کې ویره او امید په داسې اندازه سره وي چې هیڅ سابقه نه لري او یوازې به د یوه الله تعالی حکومت وجود ولري.

اِیّاکَ نَعبُدُ وَ اِیّاکَ نَسْتَعِینْ(۴)

ترجمه: خاص ستا د ذات عبادت کوو. او یوازې ستا له ذات څخه مرسته غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفسیر : کله چې الله تعالی د ټول عالم خالق، اویوازینی ذات دی، نو د عبادت لایق هم دی.
بنده تعهد کوي، چې ټول عبادتونه یې خاص د الله تعالی لپاره دي او یوازې له الله تعالی څخه مرسته غواړي. نو د بنده لپاره له الله تعالی سره د اړیکو د ټینګولو لپاره دا تر ټولو غوره لاره ده.
دالله تعالی له ذات نه پرته له هیڅ موجود څخه مرسته غوښتل روا نه دي .

اهْدِنَاالصِّراطَ الْمُسْتَقِيْمَ(۵) صِرَاطَ الَّذِينَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ(۶)

ترجمه: راوښیه مونږته مستقیمه لاره دهغو کسانو لاره چې پیرزوینه د ې ورباندې کړې ده.
تفسیر : د نیکې لارې له غوښتنې څخه مراد دلته تنها د نیکې لارې غوښتنه نه ده بلکې مراد او مطلب له دغې غوښتنې څخه د نېکې لارې لارښوونه او په هغه لاره د عمل کولو توفیق غو ښتل دواړه دي .

غَيرِالْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَاَالضَّالِينَ(۷)

ترجمه: نه د هغو خلکو لاره چې غضب پرې نازل شوی او نه لاره د هغو خلکو چې ګمراهان دي .
تفسیر: موږ ته په مستقیمه لاره چې دنجات موندونکیو لاره ده،هدایت وکړه؛ نه د غضب کړی شویو او ګمراهانو لاره. دغه آیت دا ثابتوي چې د انسان لپاره په دنیا کې له الله (ج) څخه د هدایت دلارې چې د کامیابۍ ، انعام ، ثواب او دالله (ج) د رضا لار ده ترټولو غوره غوښتنه ده چې د د غې غوښتنې د قبلېدو په صورت کې انسان ته د دواړو جهانونو کامیابي په نصیب کیږي.

---

هڅوني:

- زده کوونکي دې دلوست متن په چوپتیا سره مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې د لوست مطلب په خپلو ژبو سره بیان کړي.

ارزونه:

آیازده کوونکو د لوست لوستنه او مطلب زده کړی دی؟

لارښوونه:

- محترم ښوونکی دې د مستقیمې او غیر مستقمې مرستې په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست

# داخلاص سورت

موخه: د اخلاص د سورت د ترجمې زده کړه.

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (٤)

**ترجمه:** ووایه (ای **محمد** صلی الله علیه وسلم **چې** الله **تعالی** یودی، الله **تعالی** بی نیاز دی نه څوک له ده څخه پیدا شوي دي او نه دی له چاڅخه پیدا شوی دی. او نشته ده لره سیال .

تفسیر: یهودو اونصاراو به د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) نه داسې پوښتنې کولې: هغه خدای چې ته مونږ ورته دعوت کوې څرنګه دی؟ څه بیلګې لري؟ هغه مونږته بیان کړه. د هغوی په ځواب کې دغه پورتنی مبارک سورت نازل شوی دی.

---

هڅونې:

- زده کوونکي دې د دې سورت مفاهیمو ته پوره متوجه اوسي او په دې هکله دې مباحثه وکړي.
- دفاتحې او اخلاص دسورتونو کلمات دې سم ولولي.

محترم ښوونکی!

دسورت متن په زده کوونکو تکرار کړئ او کورنۍ دنده ورکړئ!

یادونه: په کتاب کې ددې دواړو سورتونو راوړنه ددې لپاره ده چې دواړه سورتونه ډیر برکتونه لري، دفاتحې سورت د قرآن عظیم الشان د اصل په نامه سره او د اخلاص سورت د توحید د سورت په نامه سره یادیږي. د دې دواړو سورتونو ویل ډیر اجر او ثواب لري. اوهم ددې لپاره دلته راوړل شوي چې په لمونځونو کې د دواړو سورتونو مفاهیمو ته پاملرنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيم لوست

## دالله تعالی یووالی

موخه: دالله تعالی له یووالي سره اشنايي.

پوښتنه: دالله تعالی توحید یعنې څه؟

توحید په لغت کې یووالي ته وايي .اوپه اصطلاح کې په( یو والي سره دالله تعالی پیژند نه) ده. او په دې عقیده لرل دي چې الله تعالی په ذات او صفاتو کې یو دی؛ شریک او سیال نه لري.

پوښتنه: آیا د توحید د علم د زده کړې سره آشنا یاست ؟

الله تعالی ټول انبیاء (علیهم السلام) دتوحید د تبلیغ اوتعلیم لپاره را استولي دي، چې بنده ګان د مخلوق، له بندګۍ څخه منع او د یوه الله عبادت کولو ته دعوت کړي. اوددې دعوت لپاره یې محمد صلی الله علیه وسلم هم رالیږلی او قرآن کریم یې ورباندې نازل کړی دی؛ چې په هغه کې یې دتوحید پوره بیان کړی دی او مونږ یې په هغه باندې په ایمان لرلو سره مامور کړي یو.

## دالله تعالی دیووالي دلیل

څوک کولی شي چې د الله تعالی په یووالي باندې له قرآن کریم څخه یو دلیل راوړي؟

دالله تعالی په یووالي باندې دلیل:

**لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا**:(الانبیاء سورت ۲۲ آیت)

ترجمه: (که چیرې په ځمکه اوآسمان کې پرته له الله تعالی څخه نورخدایان وای نو خامخا به یې نظام فاسد شوی وو) نو بې له شکه الله یودی ، شریک او مثل نه لري، هیڅ یو شی ورسره مساوي او مشابه نه دی اونه داسې څوک موجود دی چې له ده سره مقابله یا مخالفت وکړي.

---

هڅوني :

- زده کوونکي دې یوځل لوست په چوپتیا سره مطالعه کړي.
- زده کوونکي دې د لوست په هکله مباحثه وکړي.

لارښوونه:

محترم ښوونکی دې لوست دپوښتنې اوځواب په شکل سره تکرارکړي چې ښه نتیجه ورڅخه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم لوست

# دالله تعالی ذا تي صفتونه

موخه: دالله تعالی د ذاتي صفتونو پيژندل.

څوک کولی شي دالله تعالی ذاتي صفتونه ذکر کړي؟

دالله تعالی ذاتي صفتونه هغه دي چې د هغوی په ضد سره الله تعالی نه موصوف کيږي، او د الله تعالی له ذات سره لازم دي .

دا صفتونه عبارت دي له: حيات، علم، کلام، اراده، قدرت، سمع او بصر.

**۱- حيات:** ( ژوند ) حيات دالله تعالی له ذاتي صفتونوڅخه دی. اوپه ضد يې چې موت(مرګ) دی نه موصوف کيږي. دالله تعالی دحيات د صفت اثبات په دې مبارک آيت سره شوی دی: اَللّٰهُ لَآاِلٰهَ اِلَّا هُوَالْحَيُّ الْقَيُّوْمُ (دبقرې سورت ۲۵۴ آيت)

ترجمه: الله (ج) ، هغه ژوندي، ابدي ذات نه پرته چې ټول کائنات يې تنظيم کړي بل هيڅ خدای نشته.

**۲-علم (پوهه ):_** علم دالله تعالی له ذاتي صفتونوڅخه دی يعنی الله تعالی په ټولو موجوداتو او مخلوقاتو باندې عالم دی ، د خلکو دزړونو په اسرارو(رازونو) پوره اګاه دی دالله تعالی دا صفت هم ازلي او ابدي دی، او الله تعالی ددې صفت په ضد چې(**جهل** )دی هيڅ کله نه موصوف کيږي.

**۳- کلام (خبرې کول):** کلام دالله تعالی له ذاتي صفتونو څخه دی الله تعالی متکلم (خبرې کوونکی) دی دالله تعالی کلام دبنده ګانو دکلام په څير نه دی الله تعالی دکلام دصفت په ضد چې ګونګوالی دی نه موصوف کيږي او د دې صفت اثبات په دی مبارک آيت سره شوی دی.

وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْماً (د نساء سورت ۱۲۴ آيت)

ترجمه:( الله تعالی له موسی عليه السلام سره په بلاکيف ډول مخامخ خبرې وکړې.

او عظيم الشان قرآن هم دالله تعالی کلام دی.

---

**هڅوني :**

زده کوونکي دې دحيات، علم اوکلام دصفتونوپه برخه کې مباحثه وکړي.

**آرزونه:** آيا زده کوونکو پورتنی لوست زده کړی دی ؟

**لارښوونه:** محترم ښوونکي دې د لوست د محتوی په هکله زده کوونکو ته په ساده ژبه پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

# اراده او قدرت

**موخه** : د قدرت او ارادې دصفتونو پیژندنه .
څوک کولی شي داراد ې او قدرت په هکله څه خبرې وکړي؟

**۴- اراده** : اراده دالله تعالی دذاتي صفتونو څخه یو صفت دی. کوم شی چې په عالم کې پیدا شوی یا پیدا کیږي دالله تعالی په ارادې سره صورت مومي. ټولو شیانو دالله تعالی په ارادې سره تحقق موندلی دی. په دنیا او اخرت کې چې کوم خیر یا شر، ګټه یا نقصان، وړوکی یا لوی موجود منځ ته راځي پرته دالله تعالی له ارادې څخه تحقق نه مومي، الله تعالی د ارادې دصفت په ضد سره چې بی اراده ګي ده هیڅ کله نه موصوفیږي اراده دالله تعالی ازلی صفت دی او په دې مبارک آیت سره یې اثبات شوی دی. فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ (د بروج سورت ۱۲ آیت)
ترجمه: پوره، کوونکی دی د هغه څه چې اراده یې وکړي .

**۵- قدرت** : (توانایي) الله تعالی په ازلي اوابدي قدرت سره قادر (توانا) دی .
دهر څه اراده چې و کړي هغه کولای شي. مړي ژوندي کولی شي. کمزوری قوي او قوي کمزوری ګرځوي. یوه شخص ته عذاب ورکوي، بل ته مغفرت کوي. الله تعالی ددې صفت په ضد سره چې عجز (ناتواني) ده نه موصوفیږي او د الله تعالی دا صفت په دې مبارک آیت سره ثابت شوی دی.((اِنّ اللّهَ عَلَی كُلِّ شَيْءٍ قَدِیر)) (دآل عمران سورت ۱۲۵ آیت)
ترجمه: په تحقیق سره چې الله تعالی په هر څه قادر (توانا ) دی.

---

**هڅوني** :

- زده کوونکي دې د الله تعالی د قدرت د صفت په هکله مباحثه وکړي.
- څو تنه زده کوونکي دې د الله تعالی د قدرت مثالونه ووايي.

ارزونه: ایا زده کوونکي د لوست مطلب په خپلو ژبو سره ویلی شي؟

لارښوونه: محترم ښوونکی دې زده کوونکو ته وظیفه ورکړي چې د الله تعالی ټول ذاتي صفتونه په ټولګي کې تکرار او بیا یې په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

# سمع او بصر

**موخه:** د سمعې او بصر د صفتونو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکول.
ځوک ویلی شي چې د سمعې او بصر صفتونه د الله تعالی له کومو صفتونو څخه دي؟

**۶-سمع** : سمع هم دالله (جل جلاله) دذاتي صفتونو څخه یو صفت دی یعنی الله تعالی ټول لوړاو ټیټ اوازونه او خبرې په ازلي او ابدي سمعې سره اوري، په ښوخبرو بنده ګانو ته ثواب او په بدو خبرو سره عذاب ورکوي. سمع دالله تعالی ازلي او ابدي (قدیم ) صفت دی او د دې صفت په ضد سره چې کوڼ والی دی هیڅ کله نه موصوفیږي او په دې آیت کریمه سره یې اثبات شوی دی.

((وَ اللّهُ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ )) د بقرې سورت ۲۲۴ آیت

ترجمه: الله تعالی اوریدونکی او په ټولو اقوالو او احوالو عالم دی.

**۷-بصر**:(لیدل) دالله تعالی د ذاتي صفتونو له جملې څخه یو هم بصر دی یعني الله لیدونکی دی ټول مخلوقات ویني هیڅ شی د ده تعالی له لیدنې څخه پټ نه دی ځوک چې په تیاره شپه کې لمونځ کوي، یا کوم بل عمل ترسره کوي الله تعالی په خپل ازلي اوابدي بصر ( لیدنې ) سره هغه ویني، د هغه پوره مکافات او مجازات ورکوي د الله تعالی دا صفت قدیم (ازلي او ابدي ) دی.

او په دې آیت کریمه سره یې اثبات شوی دی:

((اِنّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیرٌ)) د بقرې سورت ۱۱۰ آیت

ترجمه: په تحقیق سره الله تعالی لیدونکی دهغه څه دی چې تاسې یې کوئ.

---

**هڅونې:**

- زده کوونکي دې په ګروپې ډول دبصر اوسمعې د صفتونو په هکله مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې دلوست محتوی په خپلو ژبو سره ووایي.

ارزونه :

- آیا زده کوونکي دبصر او سمعې صفتو نه په خپلو ژبو سره ویلی شي؟

لارښوونه:

- محترم ښوونکی دې لوست په ساده ژبه سره پوره تو ضیح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# دالله تعالی فعلي صفتونه

موخه: دالله تعالی د فعلي صفتونو پیژندنه
دالله تعالی د ذاتي او فعلي صفتونوترمنځ څه فرق دی ویې وایئ؟

فعلي صفتونه هغه صفتونه دي چې الله تعالی په اصل صفت اودصفت په ضد سره موصوف کیدای شي لکه رحمت چې ضد یې غضب دی ( الله تعالی په دواړو سره موصوف کیدای شي ) دالله تعالی فعلي صفتونه زیات دي، چې ځینې یې په لاندې توګه بیا نیږي:

۱ -تخلیق: (پیدا کول ) الله تعالی دټول عالم پیدا کوونکی دی، ځمکه، اسمانونه، ورځ، شپه او هر هغه څه چې په ځمکه او اسمانونو کې دي، الله تعالی پیداکړي دي همداراز هرڅه چې وغواړي پیدا کولی یې شي.د تخلیق ضد عدم تخلیق ( نه پیداکول) دي نو کوم څه چې الله تعالی یې پیدا ینښت نه وي غوښتی نه یې پیدا کوي.
۲- ترزیق: ( روزي ورکول ) دا دالله تعالی له فعلي صفتونو څخه یو صفت دی نو الله تعالی ټول عالم ته روزي ورکوونکی دی.
دترزیق ضد عدم ترزیق (روزی نه ورکول ) دي نو که الله تعالی وغواړي چې کوم ژوي ته روزي ورنه کړ ي پوره اختیار لري کولی شي چې روزي ورنه کړي.

---

هڅوني:

- زده کوونکي دې په ګروپی ډول دتخلیق او ترزیق په هکله مباحثه وکړي.
- زده کوونکي دې دلوست محتوی په خپلو ژبو سره بیان کړي.

ارزونه:

ایا زده کوونکي دذاتي او فعلي صفتونوتر منځ توپیر کولی شي ؟

لارښوونه:

- محترم ښوونکی دې دذاتي او فعلي صفتونو دتوپیر په هکله پوره معلومات وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

# داحیاء او اعزاز صفتونه

موخه: د احیاء او اعزاز د صفتونو له مفهوم سره آشنایي.

**۳_ احیاء**:دالله تعالی دفعلي صفتونو له جملې څخه احیا(ژوندی کول) دي نو الله تعالی دهرشي په ژوندي کولو پوره قادر دی. ټول هغه شیان چې په دنیا کې ژوندي دي یا ژوندي کیږي الله تعالی ورته حیات (ژوند) ورکړی دی. همداراز ټول عالم چې خوښه یې شي دقیامت تر ورځې پورې ژوندی ساتي. د احیا ضد اماتت (مړه کول) دي هر وخت چې دچا دمړ ه کولو اراده وکړي هغه وژني .

**۴_اعزاز**: (عزت ورکول) د الله تعالی دفعلي صفتونو له جملې څخه یو اعزاز دی یعنې کله چې الله تعالی وغواړي چاته عزت ورکړي هغه ته عزت ورکوي بیا نو هیڅوک هغه ته ذلت نه شي ورکولی، د اعزاز (عزت ورکولو ) ضد اذلال ( ذلت ورکول ) دي، نو کله چې الله تعالی وغواړي کوم شخص ذلیل کړي هغه ذلیل کوي بیا نو هیڅوک هغه ته عزت نه شي ورکولی، اعزاز، اذلال، احیاء او اماتت داټول دالله تعالی فعلي صفتونه دي.

---

هڅوني:

- زده کوونکي دې ډلې ډلې شي اود فعلي صفتونو په هکله دې بحث وکړي.
- زده کوونکي دې د لوست حاصل په خپلو ژبو سره بیان کړي.

ارزونه:

ایا زده کوونکو داعزاز،اذلال، احیاء او اماتت مفهوم زده کړی دی.

لاربښوونه:

محترم ښوونکی دې لوست په ډیر ه ساده ژبه پوره تو ضیح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم فصل

نهم لوست

## فقهه

## دفقهې تعریف او ځینې اصطلاحات

**موخه:** دفقهې د مفهوم او اصطلاح ګانو (فرض ، واجب، سنت ، مستحب او مباح) پیژندل.

فقه په لغت کې د پوهې، زیرکۍ، معرفت او پیژندلو په معنی ده. او په اصطلاح کې د هغه شرعي علم څخه عبارت دی چې د روا او ناروا له پلوه د مکلف انسان د فعل په اړه خبرې کوي.

روا عملونه په لاندې ډول دي:

**۱_ فرض :** هغه عمل ته ویل کیږي چې په داسې قطعي دلیل سره ثابت شوی وي چې کومه شبهه یې په ثبوت او دلالت کې موجوده نه وي .

او په دوه ډوله دي عملي فرض او اعتقادي فرض .

هغه فرض چې د دین له بدیهیاتو څخه وي او په اسلامي مذاهبو کې ورباندې اتفاق شوی وي منکر یې کافر دی .

**۲_ واجب :** په حنفي مذهب کې واجب هغه عمل ته ویل کیږي چې په داسې قطعي دلیل سره ثابت شوی وي چې د هغه دلیل په قاطعیت کې د ثبوت او یا دلالت له مخې شبهه موجوده وي .

**۳-سنت:** په لغت کې طریقې او لارې ته وایي او په اصطلاح کې هغه عمل ته ویل کیږي چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په خپل ټول عمر کې پرته له یو یا دوه ځلو پریښودلو همېشه کړی وي.

**دسنتو حکم:**

په کولو سره یې ثواب دی او په نه کولو سره یې ملامتي ده.

**۴-مستحب:**

درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) او اصحابو کرامو غوره چا رې دي چې په کولو کې یې ثواب او په نه کولو کې کومه ملامتي نشته.

**۵-مباح:** هغه عمل دی چې په کولو یانه کولو کې یې انسان د واک څښتن وي.

---

**هڅوني:**زده کوونکي دې په ډله ییزه توګه په فقهي اصطلاحاتو کې په خپلو کې سره خبرې وکړي.

**ارزونه:** آیا شاګردانو د سنتو او فرضو مفهومونه زده کړي دي؟

**لارښوونه:** محترم ښوونکی دې د فقهي اصطلاحګانو په اړوند زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

# داسلام دویمه بنا لمونځ

**موخه:** د لمانځه د فرضونو پیژندل او د هغو د ادا کولو لار.

پوښتنه: کوم لمونځ له اذان او اقامت پرته کېږي؟

داسلام دویمه بنا د لمانځه اداکول دي چې مسلمانان په یوه شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي . لمونځ باید په پاک بدن، پاک ځای او پاکو جامو په ځانګړي وخت کې مخ په قبله د هغه له شرایطو سره اداشي . د پنځه وخته لمونځونو داداکولو ترتیب موپه (دویم، دریم او څلورم ) ټولګیو کې په بشپړه توګه لوستلي دي. په دې ځای کې هغه لمونځونه بیانیږي چې زده کړه یې دهر مسلمان له پاره لازمه ده.

۱- دجماعت لمونځ.

۲- . دجنازې لمونځ.

۳- قضایي لمونځ.

۴- داخترونو لمونځ.

۵- دخسوف او کسوف لمونځ.

۶- د خوف (وېرې) لمونځ

۷- داستسقاء لمونځ.

۸- دتراویح لمونځ.

---

**هڅونه:**

زده کوونکي دې دیادو شویو لمونځونو په اړه په خپلو کې سره خبرې وکړي او دهغو ښېګڼې دې یوه یوه په ساده ژبه بیان کړي.

ارزونه: آیا شاګردانو واجب لمونځونه پیژندلي دي؟

لارښوونه

- ښاغلی ښوونکی دې دپو رتنیو لمونځو نو دکولو په اړه پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو لسم لوست

# دجماعت لمونځ اودهغه ګټې

موخه: په جماعت سره دلمانځه د اداءکولو دښېګڼو پیژندل.

پوښتنې :

١. په جماعت سره دلمانځه کول څه حکمت لري؟
٢. کوم لمونځونه په جماعت سره ادا کېږي؟
٣. څوک کولی شي دجماعت دلمانځه ګټې بیان کړي؟

لمونځ داسلام دویمه بناء ده، د هر مسلمان لپاره دا غوره ده چې خپل پنځه وخته لمونځونه په جومات کې په جماعت سره ادا کړي. په جماعت سره دلمانځه اداکول مؤکد سنت دي. دجماعت په لمانځه کې ډېرې ګټې شته محمد (صلی الله علیه وسلم) دجماعت دلمانځه دښېګڼو په اړوند فرمایلي دي:

(صَلَوةُالجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَوةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَ عِشْرِيْنَ دَرَجَةً) رواه مسلم

ژباړه:

په جماعت سره دلمانځه اداکول د یوه تن له ځانته لمانځه کولو څخه اوه ویشت درجې فضیلت لري .

دجماعت په لمانځه کې زیاتې ګټې او ښېګڼې شته دهغو له جملې څخه اتفاق او یووالی، دګاونډیو دحقونودرناوی، دټولنې د ټولو وګړو حقونو ته پاملرنه ، د ځانګړواو ټولنیزو ستونزو لپاره دحل دلارې پیدا کول او دمسلمانانو په زړونو کې دمینې او محبت پیدا کېدل اودآخرت دنېکمرغۍ ګټل دپورتنۍ سنتې طریقې په رعایت کولو کې ترلاسه کېږي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې دجماعت دلمانځه دښېګڼواو ګټو په اړه په ډله ایزه توګه خبرې وکړي.

ارزونه: څوک کولی شي چې دجماعت د لمانځه ښېګڼې په ساده ژبه بیان کړي.

لارښوونه:

ښاغلی ښوونکی دې په ټولنیز ژوند کې دجماعت دلمانځه اودهغه دګټو په اړوند پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

# د دواړو اخترونو لمونځ

**موخه** : ددواړو اخترونو دلمانځه دادا کولو دطریقې پیژندل.

پوښتنه: د جمعې او دواړو اخترونو لمونځونه څه فرق لري ؟

ددواړو اخترونو لمونځ سره له تکبیرونو واجب دی او په لاندې ډول ادا کیږي:

له نیت کولو وروسته امام په جهر (لوړاواز) او مقتدیان په ټیټ آواز تکبیر وایي او خپل دواړه لاسونه تر نامه لاندې یو پر بل باندې ږدي. امام او مقتدیان (سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ) ترپایه پورې په ورو سره لولي بیا امام درې تکبیرونه په لوړاواز لولي اومقتدیان یې په ټیټ آواز لولي د هر تکبیر په ویلو کې خپل لاسونه دغوږونو تر نرمیو پورې پورته کوي او ددغو دریو تکبیر ونو تر منځ لاسونه کښته (ځوړند) نیسي د دریم تکبیر تر ویلو وروسته خپل لاسونه له نامه لاندې تړي او امام په لوړآواز قرائت وایي بیا رکوع او سجده کوي. په دویم رکعت کې درې تکبیر ونه له قرآئت څخه وروسته او له رکوع نه مخکې دلومړي رکعت په شان ترسره کوي، دلمانځه له ادا کولو وروسته امام دوه خطبې لولي چې دواړه سنت دي، د کوچني اختر په خطبه کې امام د فطر د صدقې په هکله او دلوی اختر په خطبه کې د قربانۍ حکمونه او د تشریق په ورځو کې تکبیر ویلو طریقه او فضیلت بیانوي . (۱)

که چېرې داختر لمونځ دکوم شرعي عذر له امله په لومړۍ ورځ اداء نه شي په دویمه او دریمه ورځ دې ادا کړل شي.

یادونه:ددواړو اخترونو په لمونځونو کې اذان او اقامت نه شته.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې ددواړو اخترونو دلمونځونود اداء کولو طریقه یو له بل نه وپوښتي. او په عملي ډول سره دې تمثیل کړي.

ارزونه:آیا داخترونو دلمونځونو طریقه په خپله ژبه بیانولی شئ؟

لاربښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې ددو اړو اخترونو دلمانځه دویلوطریقه په عملي ډول وروښیي.

۱_ د تشریق تکبیرونه دادي : الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر و لله الحمد .چې د عرفې د ورځې له سهاره شروع او د ذي الحجة الحرام د دیارلسمې ورځې د ماز یگر تر لمانځه پورې دوام کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنازې د لمانځه حکمونه

موخه: - د جنازې د لمانځه د ادا کولو په اړه پوهېدل.
پوښتنه: دجنازې دلمانځه حکمونه کوم دي؟

دجنازې لمونځ فرض کفايي دی او په لاندې ډول ادا کېږي: کله چې خلک په صفو نو (ليکو) کې منظم ودريدل نيت دې وکړي .
لومړی تکبير دې ولولي امام او مقتديان دې لاسونه تر نامه لاندې کېږ دي په پټه خوله دې (سُبْحَانَکَ اَللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِکَ وَ تَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُکَ وَ جَلَّ ثَنَائُکَ وَ لَاَا لَهَ غَيْرُکَ) ولولي. ژباړه: پاک دی ذاتَ ستا ؛ خدايه! او ته د ستايلو وړيې. له برکت نه ډک دی نوم ستا او له عظمت نه ډک دی شان ستا. ستا ثنا ستره ده او غير له تانه بل معبود نشته، دثنا له ويلو نه وروسته بل تکبير ويل کېږي او درود شريف لوستل کيږي.
(اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَی مُحَمَّدٍ وَ عَلَي آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّيْتَ عَلَي اِبْرَاهِيْمَ وَ عَلَي آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّکَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ) ترجمه : ایَ الله تعالَی ته خَپل رحمت نازل کړه په محمد (صلی الله عليه وسلم) او په آل دَ محمد (صلی الله عليه وسلم) لکه څرنګه چې تا رحمت نازل کړی و په ابراهيم او په ال د ابراهيم په تحقيق سره ته لائق د ثناء يې او د لوی صفت وړ يې.
د درود شريف له ويلو څخه وروسته دريم تکبير ويل کېږي او بالغ مړي ته که نارينه وي او که ښځينه دا دعا لوستل کېږي.
اَللّٰهُمَّ اَغْفِرْ لِحَيِّنَا وَ مَيِتنَا وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَ صَغِيرِنَا وکَبِيْرِنَا وَذَکَرِنَا وَ اُنْثَانَا ، اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاحيِيْهِ عَلَيْ الْاسْلَامِ وَ مَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَي الْاِيْمَانِ)
ژباړه : ای اللهَ ته وبښې زمونږ ژوَندي ، مړي ، حاضرَ ، غائب ، وړوکَي، لوی ، نر او ښځې.
اې الله هغه څوک چې ته ژوند ورکوې له مونږ څخه؛ ژوند ورکړې په اسلام او هغه څوک چې ته يې له مونږ څخه مړه کوې نو مړه يې کړه په ايمان.
ددعا له ويلو نه وروسته څلورم تکبير لوستل کېږي او سلام ګرځول کيږي.

---

**هڅونه** : زده کوونکي دې په ډله ييزه توګه د جنازې د لمانځه د اداء کولو په هکله خبرې وکړي د هر ې ډلې استازی دې په عملي ډول دغه بڼه تمثيل کړي.

ارزونه:څوک کولی شي دجنازې دلمانځه دعا له ياد ه وواييي؟

لاربښوونه: ښاغلی ښوونکی دې پورتنۍ دعاپه ټولګي کې زده کوونکو ته په ساده ژبه ژباړه او تفسير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم لوست

# دماشوم هلک د عا

موخه: دهغې دعا پيژندل چې ماشوم مړي هلک ته لوستل کېږي.

(اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرْطاً وَ اجْعَلْهُ لَنَا اَجْراً وَّ ذُخْرَاوً اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعاً وَ مُشَفَّعًا)

ژباړه:

اې خدايه وګرځوې موږ ته دغه هلک د خوشحالۍ سبب او داجر سبب يې وګرځوې، او مونږ ته يې ذخيره کړې او وګرځوې هغه مونږ ته داسې سپارښت کوونکی چې سپارښت يې منل شوی وي.

هغه دعا چې دصغيرې نجلۍ له پاره ويل کېږي.

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرْطاً وَ اجْعَلْهَا لَنَا اَجْراً وَّ ذُخْراً وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَ مُشَفَّعَةً.

ژباړه:

اې الله (جل جلاله) وګرځوې دغه نجلۍ زمونږ لپاره د خوشحالۍ سبب او د اجر سبب يې وګرځوې او وګرځوې هغه مونږ ته داسې سپارښت کوونکې چې سپارښت يې منل شوی وي.

---

هڅونه:

- زده کوونکي دې د جنازې د لمانځه دعا په ټولګي کې د ننه ځان ځانته مشق او تمرين کړي .

. ارزونه:

- څوک کولی شي چې د ماشوم هلک دعا له يادهووائي؟

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې پورتنۍ دعا زده کوونکو ته په ټولګي کې دننه ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

# قضاشوی لمونځ اود هغه حکمونه

موخه: د قضا يي لمانځه دادا کولو دوختونوپيژندل اودهغه ترتيب.

څوک کولی شي دقضاشوي لمونځ داداءکولو ترتيب بيان کړي؟

قضاء په لغت کې د حکم کولو اود اداکولو په معنا ده اوپه دې ځای کې له هغه وخت نه وروسته د لمانځه اداء کول دي؛ کوم چې شريعت هغه ورته ټاکلی دی، لکه دسهار لمونځ چې دعذر له امله په ټاکلي وخت اداء شوی نه وي په بل وخت کې ادا شي. دفرض او واجبو لمونځونو له شرعي عذر پرته پرېښودل لويه ګناه ده که څه هم چې قضايي يې پرځای شي، که چيرې په هېريدلو يا د خوب له امله له يو چاڅخه لمونځ قضاشي؛ نو له راويښيدلو او يا له يا ديدلو وروسته بايد پرته له ځنډه د هغه قضايي پرځای کړي.

له شرعي عذر څخه پرته يې ځنډول هم ګناه ده. که چيرې د سهار سنت د فرض لمانځه سره يو ځای قضا شوي وي دواړه له زوال نه مخکې ادا کېږي له هغې وروسته د سهار سنت قضايي نه لري يوازې د فرضو قضايي پرځای کېږي.

د قضاشوي لمونځ نيت په لاندې ډول دی:

که چېرې له يو چاڅخه ډېر لمونځونه قضاشوي وي په ده باندې لازمه ده چې د هر يوه قضاشوي لمونځ وخت وټاکي د بېلګې په ډول د پلانۍ ورځې د سهار يا مازيګر دلمانځه قضايي اداکوم داسې نيت درست دی او که چېرې داسې و وايي دسهار يامازيګر دلمانځه قضايي ادا کوم کافي نه دی نو داسې نيت دې وکړي:

نيت مې وکړ چې پرځای کړم د مازيګر لمونځ چې اول له مانه قضاشوی دی او يا دمازيګر لمونځ چې اخر له ما نه قضا شوی دی.

---

هڅوني:

- زده کوونکي دې دقضاشوي لمونځ اودهغه دترتيب په اړوند په ډله ايزه توګه خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې دپوښتنې اوځواب په ډول په خپل منځ کې دقضاشوي لمونځ په اړوند پوهاوی وکړي.

ارزونه:آيا شاګردانو د قضائي لمانځه د اداء کولو طريقه پيژندلې ده؟

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې د قضاشوي لمونځ دحکمونو او اداکولو دترتيب په اړوند زده کوونکوته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

# د مسـبوق لمونـځ

**موخه:**

د مسبوق دلمانځه دااداکولوطريقه.

پوښتنه: مسبوق څه معنا لري؟

مسبوق هغه مقتدي ته وايي چې ديو يا څو رکعتونو له تيريدلو وروسته له امام سره په لمانځه کې شريک شي خپل لمونځ دې داسې اداکړي:

کله چې امام سلام وګرځوي مقتدي دې سلام نه ګرځوي ودې درېږي که چېرې يو رکعت ترې تېرشوی وي هغه دې پوره کړي خپل لمونځ دې بشپړکړي. که چېرې د ماسپښين، مازديګر او ماخوستن په لمونځونو کې دوه رکعته ترې تېرشوي وي دواړه رکعتونه دې پوره اداءکړي اوکه چېرې يې د ماسپښين،مازيګر په لمونځونو کې يو رکعت له امام سره اداکړی وي پاتې لمونځ دې د ماښام د لمانځه په شان اداءکړي يعنې يو رکعت دې پوره ادا کړي او بيا دې په قعده کښيني له کېناستو وروسته دې بل رکعت اداء کړي او څلورم رکعت دې خالي اداء کړي.

که چيرې د ماښام په لمانځه کې دوه رکعته ورڅخه تېرشي او يو رکعت يې له امام سره کړی وي دامام له سلام ګرځولو وروسته دې سلام نه ګرځوي، ودې درېږي پاتې دوه رکعتو نه دې ډک اداء کړي او پوره دې کړي.

له يو رکعت لمونځ اداء کولو وروسته دې په قعده کينې او وروسته له هغې دې بل رکعت اداء کړي .

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې په ټولګي کې د مسبوق د لمانځه د اداء کولو په اړه يو له بله پوښتنې وکړي.

**ارزونه:** څوک کولی شي د مسبوق لمونځ اوهغه دکولو طريقه بيان کړي ؟

**لارښوونه:** ښاغلی ښوونکی دې د مسبوق دلمانځه د اداء کولو څرنګوالی زده کوونکو ته بيان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داستسقاء دلمانځه حکمونه

**موخه:** داستسقاء دلمانځه پیژندنه.

**پوښتنه:** څوک کولی شي داستسقاء دلمانځه داداء کولو طریقه په ساده ژبه ووایي؟

استسقاء په لغت کې داوبو دغو ښتلو په معنی ده او په شریعت کې هغه لمونځ دی چې داوبو او باران دغوښتنې لپاره اداء کیږي کله چېرې په یوه سیمه کې وچکالي او قحطي راشي مستحب ده چې ددغې سیمې مسلمانان تر دریوورځوپورې داستسقاء له پاره په زړو او پیوند جاموکې په پوره عاجزۍ اود صدقو په ورکولو او روژو نیولو سره صحرا ته ووځي او هم مستحب ده چې د لوی خدای (جل جلاله) درحمت او لورېینې لپاره ماشومان او څاروي له خپل ځان سره صحرا ته بوځي.

## داستسقاء د لمانځه د کولو ترتیب:

څوک کولی شي چې داستسقاء دلمانځه دعا ووایي؟

داستسقاء لمونځ دأما م ابو حنیفة (رح) په نزد په دې ډول اداء کېږي.

امام او خلک دې په جماعت او یا په تنهایي دوه رکعته لمونځ ادا کړي دلمانځه له کولو وروسته دې امام مخ په قبله ودرېږي او خلک دې د قبلې په لور کېني، ټول خلک دې د دعا لپاره لاسونه پورته کړي، امام دې دا لاندې دعا ولولي:

اللّهُمّ اسقِنَا غَیثاً مُغیثاً مُریعاً نَافعاً غَیرَ ضَارٍ عَاجِلاً غَیرَ أجِلٍ

ژباړه: اَيَ الله! داوبولرونکي باران َپه اورولو سرِه او َدتازه وښوَیِه را ټوکېدو سره چې په هغه کې دټولو خلکو ګټه وي او زیان ونه لري مونږ د باران په اورېدو ماړه کړې.

اَللّهُمّ اَسقِ عِبَادکَ وَ بَهَائمکَ وَانشُر رَحمَتَکَ وَاحیِ بَلَدکَ المَیت.

ژباړه: ای َالله! خپل بندَهَ ګان او څاروي په اوبو مَاړه کړه! او خپله مهرباني زیاته کړه! او ژوندی کړه دغه خپل مړ ښار یعنې د رحمت په باران یې خړوبه کړه!

دامام محمد (رح)او امام یوسف په مذهب داستسقاء لمونځ په جماعت سره ادا کېږي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې داستسقاء دلمانځه دکولو په طریقه په ډله ییزه توګه په خپلو کې سره خبرې وکړي او یوله بل څخه دې پوښتنې وکړي.

**ارزونه :** څوک کولای شي د استسقاء د لمانځه مفهوم او طریقه بیان کړي .

**لارښوونه:** ښاغلی ښوونکی دې داستسقاء دلمانځه په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته لسم لوست

# د خسوف اوکسوف د لمانځه حکمونه

موخه :دخسوف اوکسوف دلمانځه د اداء کولو د طریقې پیژندنه .
څوک کولی شي دخسوف او کسوف مطلب په ساده ژبه ووایي ؟

خسوف د سپوږمۍ تورتم کېدو او کسوف دلمرتورتم کېدوته وايي. که چېرې د سپوږمۍ يوه برخه ونيول شي اورڼا يې نیمګړې شي سنت دي چې خلک له جماعت پرته په هر ځای کې چې کولی شي دوه رکعته لمونځ وکړي. همدارنګه مستحب د ي چې خلک دسخت باد دلګېدو، یا دورځې له پلوه د سختې تیارې د راتللو په وخت کې دوه رکعته نفل لمونځ وکړي. که چېرې دلمر یوه برخه یا ټول تورتم شي اورڼا يې نیمګړې شي؛ سنت ده چې د جمعې امام دوه رکعته لمونځ په جماعت سره داذان، اقامت او خطبې پرته په غیر مکروه وخت کې ادا کړي. د رکوع او سجدې اوږدول او په جامع جومات یا داختر د لمانځه په جومات کې دهغه ادا کول سنت دي. له لمانځه وروسته دې امام دعا وکړي خلک دې آمین ووايي تر څو چې لمر روښانه شي که چېرې دجمعې امام حاضر نه وي ځان ځان ته دې لمونځ وکړي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې دخسوف اوکسوف دلمانځه په طريقه په خپلو کې سره خبرې وکړي.

**ارزونه:**

خسوف اوکسوف څه معنا لري ؟

**لارښوونه:**

- ښاغلي ښوونکی دې دخسوف اوکسوف د لمانځه اودهغه داداکولو د طریقې په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

یادونه: مکروه وختونه: د لمرزوال، پرېوتلو او د لمر د راختلو وختونه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

# د خوف (ويرې)د لمانځه طريقه

موخه: دخوف ( ويرې) د لمانځه د کړنلارې پېژندل.

س: څوک کولای شي د خوف د لمانځه د اداء کولو کړنلاره بيان کړي ؟

لمونځ چې دالله تعالی د ډيرو مهمو عباداتو څخه دی هيڅکله د مسلمان له غاړې نه ساقطيږي حتی د جنګ په ډګر کې چې د دښمن سره د مخامخ کيدو سخته ويره هم وي ، په لاندې ډول سره اداء کيږي :

امام به مجاهدين په دوو ډلو وويشي که چيرې لمونځ دوه رکعتي وي يو شمير مجاهدين دې د دښمن په وړاندې ودريږي او بل شمير مجاهدين دې يو رکعت لمونځ له امام سره اداء کړي ، بيا هغه مجاهدين چې يو رکعت يې له امام سره اداء کړی؛ د لومړنيو مجاهدينو په ځای دې ودريږي. او لومړنۍ ډله مجاهدين دې په امام پسې د لمانځه د اداء کولو له پاره ودريږي ، يو رکعت دې په امام پسې اداء کړي ، کله چې د امام لمونځ دوه رکعته پوره شو نو امام سلام ګرځوي او هغه مجاهدين چې لومړی يې يو رکعت اداء کړی د دويم رکعت د بشپړولو له پاره راځي دويم رکعت دې د قرائت له لوستلو پرته اداء کړي، وروسته له هغه دې هغه مجاهدين چې ددښمن په وړاندې ولاړ دي او يو رکعت لمونځ يې اداء کړی دی د خپل لمانځه دويم رکعت دې د قرائت سره اداء کړي اوسلام دې وګرځوي، او څلور رکعتي لمونځ هم په همدې ډول اداء کيږي .

---

هڅونه:

زده کوونکي دې د پورتني لمانځه طريقه په ډله ييزه توګه مشق او تمرين کړي.

ارزونه:

د خوف لمونځ څه معنی لري ؟

لارښوونه:

ښاغلی ښوونکی دې د خوف د لمانځه د اداء کولو طريقه په زده کوونکو باندې په ټولګي کې په عملي توګه اجرا کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

# د تلاوت دسجدې حکمونه

**موخه** : دتلاوت دسجدې د ادا کولو ځای او سبب پیژندل.
آیا کولی شئ دتلاوت سجده په عملي توګه تمثیل کړئ؟

قرآن کریم آسماني کتاب دی چې په **۲۳** کلونو کې دلوی الله تعالی له خوا په محمد (صلی الله علیه وسلم) نازل شوی دی، په دغه آسماني کتاب کې دالهي توحید دثبوت دلیلونه او د محمد (صلی الله علیه وسلم) درسالت ثبوت اوددنیا په ژوند او آخرت پورې اړوند حکمونه او دجنت ،دوزخ او نورو داثبات دلیلونه او دقیامت دورځې ثبوت بیان شوی دی .
قرآن کریم اوږده، لنډ اومتوسط سورتونه لري، په ځینوسورتونه کې دتلاوت سجده واجبېږي ، دتلاوت د سجدې آیاتونه او د هغوی ځایونه په لاندې ډول دي.

| شماره | سورت | پاره | رکوع | ایت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | الاعراف | ۹ | ۲۴ | ۲۰۷ |
| ۲ | الرعد | ۱۳ | ۲ | ۱۵ |
| ۳ | النمل | ۱۹ | ۲ | ۲۵ |
| ۴ | النحل | ۱۴ | ۶ | ۵۰ |
| ۵ | بنی اسرائیل | ۱۵ | ۱۲ | ۱۰۹ |
| ۶ | مریم | ۱۶ | ۴ | ۵۸ |
| ۷ | الحج | ۱۷ | ۲ | ۱۸ |
| ۸ | الفرقان | ۱۹ | ۵ | ۶۰ |
| ۹ | السجده | ۲۱ | ۲ | ۱۵ |
| ۱۰ | ص | ۲۳ | ۲ | ۲۴ |
| ۱۱ | حم السجده | ۲۴ | ۵ | ۳۸ |
| ۱۲ | النجم | ۲۷ | ۳ | ۶۲ |
| ۱۳ | الانشقاق | ۳۰ | ۱ | ۲۱ |
| ۱۴ | العلق | ۳۰ | ۱ | ۱۹ |

---

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د تلاوت د سجدې داداکولو طریقه په عملي توګه په ټولګي کې تمرین کړي.
لارښوونه: ښاغلی ښوونکی دې دتلاوت سجدې داداکولو د طریقې او ځای په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ويشتم لوست

# د تلاوت دسجدې داداکولو طريقه

موخه: د تلاوت د سجدې د ادا کولو د طريقې پيژندل

لومړی دې د تلاوت د سجدې د اداء کولو نيت وکړي (نيت مې کړی چې اداء کړم د تلاوت سجده)
وروسته دې الله اکبر ووايي .

د تلاوت دسجدې لپاره قيام (مستحب دی) د سجدې له پيل څخه مخکې تکبير ويل کيږي. بيا درې کرته (سُبْحَانَ رَبِّىَ الْاَعْلٰى) ويل کيږي وروسته تکبير وايي او له سجدې څخه را پورته کيږي له سجدې وروسته دريدل مستحب دي.

د تلاوت د سجدې دوه تکبيره سنت دي ، د تلاوت په سجده کې د تکبير ويلو په وخت کې د لاسونو پورته کول ، تشهد (التحيات) ويل او سلام ګرځول نه شته .

---

هڅوني:

- زده کوونکي دې د تلاوت دسجدې دادا کولو ترتيب په ټولګي کې دننه مشق اوتمرين کړي .
- زده کوونکي دې د تلاوت دسجدې په هکله مباحثه وکړي.

ارزونه:

- څوک کولی شي دتلاوت دسجدې نيت ولولي؟

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې دقرآن کريم دتلاوت دسجدې اودهغې د ځای په اړه زده کوونکوته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

# د روژې حکمونه

**موخه** : دروژې دحکمونود نقلي دلیل پیژندنه.
دروژې حکم څه دی؟

«یَا اَیُّهَاالّذِیْنَ آمَنُواْ کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ کَمَا کُتِبَ عَلَی الّذِیْنَ مِنْ قَبلِکُم لَعَلّکُم تَتّقُوْنَ»
**دبقرې سورت آیت (۱۸۳)**
**ترجمه:**
ای هغو کسانو چې ایمان یې را وړی دی دروژې په مبارکې میاشتې کې دروژې نیول په تاسو باندې فرض دي ، لکه چی روژه نیول په پخوانیو امتونو هم فرض وه، ترڅو یې په نیولو سره د تقوی خاوندان شئ.
روژه فرض عین ده او دلوی خدای درضا دتر لاسه کولو سبب کیږي، روژه نه نیول لویه گناه ده او که څوک ورڅخه انکار وکړي کافر دی. رسول اکرم (ص) دروژې دفضیلتو نو په اړه فرمایلي:
دروژه لرونکي د خولې بوی دخدای (ج) په نزد دمشکو له خوشبویي څخه زیات خوشبویه دی. او دغه راز په حدیث شریف کې راغلي دي: (عن ابي هریره (رض) قال: قال رسول الله (صلي الله علیه وسلم)( مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِیْمَانًا وَ اِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدّمَ مِنْ ذَنْبِه) (متفق علیه) ترجمه: څوک چې د ایمان په رڼا کې د خدای د رضا له پاره د رمضان روژه ونیسي ټول مخکیني گناهونه یې بخښل کیږي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې د روژې دفضائلو په اړه په ځانکړې او ډله یزه توگه خبرې وکړي.

**ارزونه:**

د روژې دنیو لو دفرضیت حکم څه دی؟
لارښوونه:
ښاغلی ښوونکی دې دروژې دبرکت اوفضلیت په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

در ویشتم لوست

# دروژې ګټې

**موخه** : دروژې د ګټو پېژندنه.

۱- څوک کولی شي دروژې ټولنیز ې ګټې بیان کړي ؟

دروژې نیول داجراو ثواب نه سربیره چې لوی خدای (ج) یې په اخرت کې روژه نیوونکي ته ورکو ي په دنیا کې هم ډیرې فردي، ټولنیزې او روغتیایي ګټې لري.

**دروژې فردي ګټې:**

روژه لرونکي د روژې په نیولو سره له تندې او لوږې سره عادت کیږي که چیرې د ژوند په اوږ دو کې د فقر او بې وزلۍ سره مخامخ شي په زغم او حوصلې سره د هغو په وړاند ې دریږي او ځان نه بایلي.

**دروژ ې ټولنیز ې ګټې:** هغه مسلمانان چې سوکاله او خوشحاله ژوند لري یوازې د روژې په میاشت کې د لوږې او تندې احساس کوي خو فقیران او بې وزلان د تل لپاره په دغه شان لوږه اوتنده کې ژوند کوي له دې امله د هغوی د ژوند دحال نه خبریږي اوپه زړونو کې یې مهرباني پیدا کیږي. دفقیرانو او غریبانو سره مرسته کوي. په پای کې د فقیرانو او بډایا نو تر منځ یوډول محبت او دوستي را منځته کیږي ،چې دا په خپله دیوې ټولنې دنیکمرغۍ او خوشحالۍ سبب کیږي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې په ټولګي کې د روژې دګټو په اړه په ډله ییزه توګه خبرې اترې وکړي.

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې د روژې ګټې په تفصیل سره زده کوونکو ته بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلیرویشتم لوست

# د روژې اهداف (تقوی او روغتیا)

**موخه** : دروژې د رو غتیایي ګټو پیژندنه .
څوک کولای شي چې د روژې د روغتیایي ګټو په اړوند معلومات ورکړي؟

روژه د ځانګړي اغیز له مخې چې د انسانانو په مادي او معنوي اصلاح کې یې لري د تل له پاره یې په آسماني شریعت کې د لازمي جزء په ډول خپل مقام ساتلی دی.
د روژې د فرضیت ډیر هدفونه دي ، خو تر ټولو غوره یې قرآن کریم په خپلو خوږو الفاظو کې داسې بیان کړی دی ( لعلکم تتقون ) ښایي چې د تقوی په زیور ښکلي شئ.
تقوی د انسانانو د غوره والي معیار او هغه جوهر دی چې په انسان کې له الله تعالی څخه ویره او د هغه څخه د امید ساتلو روحیه پیاوړې کوي.
او همدارنګه د روژې له اهدافو څخه د انسان روغتیا او غښتلتیا ده لکه چې رسول الله(صلی الله علیه وسلم ) فرمایلي دي : (صوموا تصحوا) روژه ونیسئ چې صحت مند شئ .
۱_ د معدې او ځیګر د زیړي ناروغۍ د روژې په نیولو سره له منځه ځي .
۲_ د هاضمې، پوښتورګو او ځیګر ناروغۍ چې په درملو یې درملنه نه کیږي په روژې نیولو سره یې په ښه توګه درملنه کیږي .

---

**هڅونه:**
زده کوونکي دې دروژې د روغتیایي ګټو په باب د ننه په ټولګي کې په ډله ییزه توګه خبرې وکړي .
**ارزونه :**
څوک د روژې ګټې ویلای شي ؟
**لارښوونه :**
ښاغلی ښوونکی ! د روژې ګټې او د انسان د پاره د هغې د رو غتیایي ګټو په اړه زده کوونکوته پوره معلومات ورکړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ويشتم لوست

# د روژې خوړلو شرعي عذرونه

**موخه:** دروژې خوړلو له پاره دشرعي عذرونو پيژندل.

۱- ناروغ چې د روژې نيولو قدرت نه لري يا د لايق ډاکتر د وينا له مخې د خپلې ناروغۍ له سختېدو نه وډار شي د هغه له پاره روا ده چې روژه وخوري. او د روغتيا په وخت کې يې بيا ونيسي او که په راتلونکي وخت کې هم په روژه نيولو قادر نه شو نو له شريعت سره سم به فديه ورکړي .

۲- د بچي د زيانېدو له ويرې:که چيرې اميد واره ښځه ډاربده چې روژه نيول دې ته او يا يې ماشوم ته زيان رسوي هغې ته رواده چې روژه وخوري او په راتلونکي کې يې بيا ونيسي.

۳- که چيرې شيدې ورکونکې مور د خپل ځان يا د خپل ماشوم لپاره چې شيدې روي دروژې له نيولو څخه د خطر احساس کاوه ،روژه دې وخوري بيا دې قضايي په راتلونکي وخت کې ونيسي.

۴- که چېرې څوک مسافر شي هغه ته روا ده چې روژه وخوري او قضايې يې په راتلونکي کې راوړي.

۵- داوږده عمر لرونکي بوډا (شيخ فاني) چې دروژې نيولو توان ونه لري د روژې خوړلو اجازه ورته شته، دهغې په بدل کې فديه او يا د هغې پيسې ورکړي.که چيرې شيخ فاني په راتلونکي کې وتوانيد د هغې قضائي دې پرځاي کړي. که چيرې يې مخکې فديه ورکړې وي دغه فديه نفل ده، همدارنګه هغه تنده يا هغه لوږه چې دمرګ ويره پکې وي شرعي عذر ګڼل کيږي.

۶- اکراه: که چېرې څوک په زوره دروژ ې خوړلوته اړشي چې روژه وخوري جواز لري بيادې قضايي راوړي.

۷- هغه مجاهد چې ددښمن په مقابل کې وي او پوهيږي چې جنګ داسلام ددښمن سره دی روا ده چې روژه وخوري او بيا يې قضايي پرځای کړي.

---

**هڅونه :** زده کوونکي دې دروژې دخوړلو په شرعي حالاتو باندې خبرې اترې وکړي .

لارښوونه:

- ښاغلي ښوونکي دې د روژې خوړلو د شرعي عذرونو په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.
- ښا غلی ښوونکی دې د سفر شرعي مسافه چې علماوو په هوارهٔ ځمکه کې په عادي تګ سره د دريو شپو او ورځو په اندازه ښودلې ده او په اوسني مقياس سره تقريباً (۸۲) کيلو متره کيږي. زده کوونکو ته د ې په دې اړه پوره معلومات ور کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ويشتم لوست

# دروژې ماتوونکي

**موخه**:د روژې دماتوونکو او د قضايي روژې حکم او د کفارې پيژندنه.

دروژې ماتوونکي  په دوه ډوله دي.
**الف**:- هغه چې يو ازې قضايي پرې لاژميږي.**ب**:- هغه چې قضايي او کفاره دواړه پرې لاژميږي .

**الف** –هغه چې يوازې قضائي پرې لاژميږي.

۱- د اکراه(جبر) له امله دروژې خوړل.  **۲**- دمضمضې په وخت کې له ستوني څخه داوبو تيريدل؛ په داسې حال کې چې روژه يې په يادوي **۳**- په قصد ي توګه د (قَیْ) تيرول چې په ډکه خوله وي . **۴**- دخولې په ډکوالي باندې په قصدي توګه قَیْ کول .
**۵**- د هغه شي خوړل چې غذايي ماهيت ونه لري لکه کاغذ او يا کوچنۍ ډبرې .
**۶**- د هغه څه تيرول چې په غاښونو کې وي او د نخود د دانې په اندازه وي.
**۷**- د خولې د وينو تيرول چې له لاړو څخه زياتې او يا مساوي وي.
**۸**- پيشمنی کول په دې ګومان چې لاتراوسه شپه ده حال دا چې سبا راختلی وي.
**۹**- په قصدي ډول دروژې خوړل؛ په دې ګومان چې لمر پر يو تلی دی.
**۱۰**- د وربځې او دوړو په ورځو کې دروژې ماتول اوبيا جوته شي چې دوخت نه مخکې يې روژه ماته کړې ده.

**ب**: هغه چې په روژه ماتوونکي قضايي او کفاره دواړه لاژموي.

دروژې په مبارکه مياشت کې په قصدي ډول خوړل اوڅښل چې دروژې نيت يې کړی وي په قصدي توګه جماع کول، په فاعل او مفعول دواړوباندې قضايي او کفاره لاژموي.
دروژې کفاره په لاندې ډول ادا کيږي: ۱_ دغلام اويا وينځې ازادول.  ۲_ په مسلسله توګه دوه مياشتې روژه نيول . ۳_ که چيرې يې دروژې نيولو وس نه درلود  شپيتو بې وزلو ته د فديې ورکول  او يا سهار او ماښام پرې ډوډۍ خوړل، او يا دې د هغې پيسې ورکړي، د روژې فديه د فطر د صدقې سره برابره ده.

---

**هڅونه**:

- زده کوونکي دې د روژې دمبارکې مياشتې دخوړلو په اړه چې يوازې قضايي پرې لاژميږي خپلو کې سره خبرې اترې وکړي د هغې ډول ډول حالتونه دې وڅيړي.

**ارزونه** : څوک کولی شي ووايي چې روژه څه ته وائي؟

لارښوونه: ښاغلی ښوونکی دې د روژې دحکم او کفارې په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه ویشتم لوست

# پاتې شوې ( قضايي ) روژه

**موخه:** د قضا شوې روژې د قضا راوړلو په اړه معلومات .
ځوک کولی شي د قضايي روژې د نيولو په اړه نظر ښکاره کړي؟

**هغه شمير کسان چې په هغو باندې دروژې قضايي لازمه وي دممنوعه ورځو پرته يعنې دکوچني اختر لومړۍ ورځ، د لوی اختر لومړۍ ورځ او دتشريق درې ورځې (دذوالحجې يو لسمه، دولسمه، ديارلسمه). نورهروخت چې قضايي پرځای کړي روا ده، ښه داده چې دشرعي عذر پرته په قضايي روژه کې ځنډ و نه شي دقضايي روژې پرله پسې نيول شرط نه دي خو د کفارې په قضايي روژه کې پرله پسې نيول شرط دي. که چيرې چا نفلي روژه پيل کړه او بيا يې هغه فاسد ه کړه دهغې بيا نيول واجب دي، که چېرې دروژې په ورځ ماشوم بالغ شو او يا کافر مسلمان شو په دې صورت کې دې د ورځې پاتې برخه حتماً روژه ونيسي او د دغې روژې بيا نيول پر هغوی لازم نه دي.**

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې دقضايي روژې ممنوعه وخت په فردي ډول يو له بل څخه و پوښتي.

**ارزونه:**

- دقضائي روژې (ممنوعه وخت) ځوک بيا نولی شي؟

لارښوونه:

- ښاغلي ښوونکي دې دقضايي روژې دوختونو په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

## د تراویح لمونځ

**موخه :** دتراویح دلمانځه دځای او دتراویح دلمانځه پیژندل.
ـ د تراویح لمونځ اوپه هغه کې دقرآن کریم ختم دروژې په مبارکه میاشت کې څه حکم لري؟
ـ ایاد تراویح لمونځ قضایي لري؟

دروژې په مبارکه میاشت کې دتراویح لمونځ هره شپه په نارینه او ښځینه چې روژه پرې فرض وي شل رکعته سنت دی اودوه دوه رکعته اداء کول یې سنت دي، ددوو رکعتو نو له اداء کولو څخه وروسته دې سلام وګرځوي کله چې څلور رکعته پوره شي؛ نو لږ موده دې ځنډ وکړي د ځنډ په وخت کې د تسبیح ویل ثواب لري .په جماعت سره د تراویح لمونځ اداء کول ډېر ثواب لري. د روژې د مبارکې میاشتې په تراویحوکې یوځل د قرآن کریم ختم سنت دی. دتراویح لمونځ د ماخوستن له لمانځه نه وروسته تر رینبتني سهار(صبح صادق ) پورې ادا کېدلی شي، که چېرې دتراویح لمونځ په خپل وخت ادانه شي قضایي نه لري. په روژه کې د وترو لمونځ د تراویح دلمانځه له اداء کولو وروسته په جماعت سره ادا کېږي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې دتراویح دلمانځه داداء کولو په اړه په ټولګي کې د ننه یوله بل نه پوښتنې وکړي.

**ارزونه:**

دتراویح دلمانځه د اداء کولو وخت کوم دی؟

لاربښوونه:

ښاغلی ښوونکی دې دتراویح دلمانځه دادا کولوطریقه په ټولګي کې د ننه په ډله ییزه توګه تمثیل کړي.

همدارنګه ښوونکی دې دا روښانه کړي چې د رمضان د میاشتې په اوله شپه په داسې حال کې چې د وتر لمونځ یې اداء کړی وي او د رمضان د میاشتې له داخلیدو څخه خبر شي نو وروسته هم کولای شي چې د تراویځ لمونځ اداء کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

## اعتکاف

موخه: داعتکاف دکلمې د مفهوم پېژندنه.

س :

اعتکاف څه معنی لري؟

اعتکاف څوډوله دی؟

اعتکاف دبندیدلو او ځنډکولو په معنی دی، او په شریعت کې د اعتکاف په نیت په هغه مسجد کې دروژې د نیولو سره دځنډکولو څخه عبارت دی چې په هغه کې پنځه وخته لمونځ په ډله ییزه توګه په (جمعې ) سره ادا کیږي. اعتکاف درې ډو له دی، واجب، سنت، مستحب .

واجب: هغه اعتکاف ته وایي چې یو څوک یې پر خپل ځان نذرکړي. دبېلګې په ډول یو سړی نذرکړي، چې زه یوازې د لوی خدای (ج) له پاره درې ورځې اعتکاف کوم (غلی ) کینم او یا ووایي که چیرې مې فلانی حاجت (غوښتنه ) پوره شي؛ نو زه دلوی خدا ی (ج) لپاره دوه ورځې اعتکاف کوم چې دغه اعتکاف ته نذري اعتکاف وایي.

<u>سنت اعتکاف:</u> سنت اعتکاف هغه دی چې د روژې د مبارکې میاشتې په وروستیو لسو ورځو کې د روژې د مبارکې میاشتې د شلمې ورځې دلمر له پریو تو څخه پیل او دکوچني اختر د میاشتې په لیدوسره سملاسي پای ته رسیږي. دا اعتکاف سنت دی.

<u>مستحب اعتکاف</u> : د واجب او سنت اعتکاف پرته نور ټول اعتکافونه مستحب دي.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې داعتکاف دمفهوم په اړه په ځانګړي او ډله ییزه ټوګه په خپلو کې سره خبرې اترې وکړي .

ارزونه: اعتکاف څه معنی لري؟

لارښوونه:

- ښاغلی ښوونکی دې د اعتکاف د حکمونو په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرشم لوست

## داعتکاف د صحت شرطونه

موخه : داعتکاف پیژندل

د اعتکاف د صحت شرطونه: ۱- مسلماني ۲- عقل، ۳- نیت کول،

۴- دنارینه وله پاره په جومات کې ۵- روژه درلودل،

یادونه : ښځې دې په هغو مخصوصو ځایو نو کې چې دلمانځه له پاره غوره شوي وي اعتکاف وکړي.له جنابت څخه پاکوالی داعتکاف دپیل شرط دی، دهغه د دوام شرط نه دی.

---

**هڅونه:**

زده کوونکي دی د اعتکاف د سموالي په شرطونو په ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

ارزونه:

- ایا د اعتکاف د جواز شرطونه ویلی شئ؟

لارښوونه:

ښاغلی ښوونکی دې د اعتکاف دشرطونو په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو د پرشم لوست

# د فطر د صدقې حکمونه

**موخه:** د فطر د صدقې دحکمونو پېژندنه .
د فطر صدقه څه معنی لري؟
د فطر صدقه څو مره اند ازه ټاکل شوې ده؟
د فطر د صدقې مستحق کوم کسان دي؟

په هر مسلمان باندې چې د شرعي نصاب خاوندوي دفطر صدقه واجب ده. د نصاب خاوند د خپل ځان او خپلو ټولو صغیرو او لادونو او ښځې صدقه باید ورکړي. د سر سایې اندازه له هر یوتن څخه که ماشوم وي او که لوی، یوه نیمه کیلو او یو سل او پنځوس ګرامه ( ۱۲۵۰) ګرامه غنم او یا درې کیلو او درې سوه ګرامه ( ۳۳۰۰) وربشې یا کشمش او یا خرما ده. که چېرې د غنمو پرځای د هغو بیه ورکړي اجازه شته، خو د ورکولو په وخت کې د فقیر مصلحت په نظر کې نیول کیږي ، دورکولو وخت یې د کوچني اختر د لومړۍ ورځې دصبح صادق له را ختو څخه شروع کیږي که چېرې په همدې ورځ ماشوم دنیا ته راشي داختر صدقه پرې واجب کیږي. که چیرې څوک دسهار له راختو مخکې مړشي دفطر صدقه پرې واجب نه ده .دفطر صدقه باید داختر د لمانځه له اداء کولو نه مخکې ورکړی شي.که چیرې داختر دلمانځه څخه وروسته ورکړل شي هم جوازلري.

---

**هڅونه:**

- زده کوونکي دې د فطر دصدقې دمفهوم او دهغې دورکولو په اړه په ځانګړې او ډله ییزه توګه خبرې وکړي.

**ارزونه:**
د فطر صدقه څه حکم لري؟

**لارښوونه:**

- ښاغلی ښوونکی دې دصدقې د کمیت او کیفیت په اړه زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین

١. څوک د فاتحې سورت په یاد ویلای شي ؟
٢. د الله تعالی فعلي او ذاتي صفتونه بیان کړئ
٣. د ذاتي او فعلي صفتونو تر منځ فرق بیان کړئ
۴. په جماعت سره دلمانځه فایدې بیان کړئ
۵. د اخترونو د لمونځونو په هکله په ټولګي کې په عملي توګه خبرې وکړئ
٦. څوک د نابالغ هلک دعا ویلای شي ؟
٧. مسبوق څه معنی لري ؟
٨. د استسقاء د لمانځه د اداء کولو مفهوم او علت څه دی ؟
٩. د خسوف او کسوف معنی په ساده ژبه سره بیان کړئ
١٠. څوک د تلاوت سجده په عملي ډول په ټولګي کې تمثیلولی شي ؟
١١. د روژې په مبارکه میاشت کې د روژې نیول څه حکم لري؟
١٢. اعتکاف څه معنی لري ؟
١٣. د اعتکاف د صحت شرطونه بیان کړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم فصل

دوه د پرشم لوست

## اخلاقي فضايل

موخه داخلاقي فضايلو پيژندنه .
اخلاقي فضايل څه ته وايې؟

اخلاق د خُلق جمع ده او خُلق په لغت کې د خوی خصلت په معنی دی . او ښه خلق له هغې باطنی قوې څخه عبارت دی چې په آسانۍ سره انسان ته د ښوکارونو د سرته رسولو توانايي او ځواک ورکوي. او له بدو کارونو څخه يې منع کوي .
اخلاقي فضايل اخلاقي فضايل له نيکو اخلاقو ، ښوخويونو او دشريعت سره له موافق عمل کولو څخه عبارت دي . دا فضايل دښوونې او روزنې په وسيله په لاندې ډول سره حاصليږي
الف کوچنيانو ته د مور، پلار، قريبانو، خپلوانو .... په وسيله د ماشومتوب له دورې څخه په کورنۍ کې.بايد وښودل شي.
ب په ښوونځي کې د ښو ونکو او استادانو په وسيله. يعنی دا دواړه ډلې دنده وظيفه لري چې د ماشومانو سره داسې لار غوره کړي چې په هغوی کې ښه خويونه پيدا وړی شي او دښو کارونو په کولو سره عادت شي. ښه خويونه لکه ريښتيا ويل ، اما نتداري ، عدالت ، نظافت پاکۍ اطاعت او روغتيا ساتنه ورته تلقين کړې چې د هغوی يو دايمي خوی او عادت وګرځي.
که چيرې واړه ماشومان د مور او پلار او استادانو له خوا سم تربيه شي بيا به ټولنې او کورنيو ته کوم مشکل وجود و نه لري، د نيکو خويونو لرونکي انسانان به ټولنې ته وړاندې شوي وي.
دوهم هغه څه چې له اطفالو سره په سمه روزنه او د اخلاقي فضايلو په زده کړه کې پوره مرسته کوي د ښو خلکو ملګرتيا ده. ددې لپاره چې دانسان انساني حيثيت، وقار او اخلاقي فضايل خوندي وي بايد د ملګري او دوست په انتخاب کې ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتیاط وکړي. دهغه چاسره ملګر تیاوکړي چې اخلاقي فضایل یې ورځخه پیاوړي کیږي، یا لږتر لږه دده فطري خویونو ته زیان نه رسوي.

نو د انسان وظیفه ده چې زیات فکر وکړي، د اخلاقي روش او خپلو خویونو په تکمیل کې زیار وباسي.

ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي (انما بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الَا خلاَق په تحقیق سره زه د نیکو خویونو د تکمیل له پاره را استول شوی یم . دغه فضایل د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د سیرت او سنتو د پیروۍ په واسطه حاصلیږي چې د هغو زده کړه د استادانو ، موراو پلار او ګاونډیانو په مرسته صورت مومي .

---

هڅونه

- زده کوونکي دې داخلاقی فضایلو دزده کړې په هکله په ډله ییزه او فردي توګه فکر او خبرې وکړي.

ارزونه

څوک ویلی شي چې اخلاقي فضایل څه معنا لري؟

لاربنوونه

- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکوته وخت ورکړي چې د لوست د موضوع په اړه فکر او خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې دیرشم لوست

# د اخلاقو ارزښت

موخه د اخلاقو د ارزښت پیژندنه .
آیا د اخلاقو ارزښتونه پیژنئ ؟

ښکاره خبره ده چې انسان ټولنیز موجود دی ، ټولنیز ژوند د دوی په منځ کې اړیکې او روابط پیدا کړي دي، چې روابط او معاملات کله ښه او کله بد نومول کیږي ، ښه او مناسب معاملات هغه وخت تحقق مومي چې انسان د اخلاقي قواعدو او قوانینو پیرو شي ، نو د اخلاقي لارښوونو ، هدایاتو پیژندنه هر انسان ته لازمه او حتمي امر ګڼل کیږي ، چې د هغوی په پیروۍ سره په ټولنه کې د یوه ښه شخص په څیره کې ښکاره او ژوند وکړي. په کومه ټولنه کې چې اخلاقي فضایل نه وي د هغې ټولنې نظام ګډوډ وي .
که چیرې مونږ د ناوړه اعمالو په کولو سره اخلاقي فضایل ضایع کړو په حقیقت کې مو یو الهي نعمت ضایع کړی دی. ځکه د انسان شخصیت او لوړ والی د هغه په اخلاقي فضایلو پورې اړه لري؛ آیا نه ګورو، چې موږ الله تعالی په ډیر ښه صورت سره پیدا کړي یو مونږ ته یې عقل، فکر د تمییز قوه را کړې دي، چې خیر د شر څخه بیل کړو، سترګې، لاس، پښې او نور اندامونه یې راکړي دي، چې په ښه توګه ورڅخه ګټه واخلو؛ او ښه کارونه وربانديې ترسره کړو. پیغمبران علیهم السلام یې را لیږلي دي تر څو مو د نیکبختۍ لارو ته دعوت کړي .

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د اخلاقو د ارزښت په اړه په خپلو کې سره خبرې وکړي .

**ارزونه**

ایا زده کوونکي د اخلاقو د ارزښت په اړه په څه پوهیدلي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلور د یرشم لوست

# امانت ساتنه او په عهد باندې وفا کول

موخه   له امانتدارۍ او عهد سره آشنا یي.

دا ایمان لرونکو له خویونو څخه یو امانت لرنه او په وعدو باندې وفا کول دي.
قرآنکریم په دې باره کې داسې لارښوونه کړې ده.
وَالّذِیْنَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُوْنَ د مؤمنون سورت آیت ۸
ترجمه او هغه مؤمنانو برئ موندلی دی چې د خپلو امانتونو او د خپلو ژمنو او تړونونو لحاظ کوي.
داسلام په روښانه دین کې دامانت خیانت کول لو یه ګناه ګڼل شوې ده او امانت ساتنه د ایمان او بریالیتوب نښانه او شرط دی. دا هم ښکاره ده چې څوک امانت نه خیانت کوي د خلکو پام ځانته را ګرځوي او اعتماد وربا ندې کوي. او ښایي د امین لقب ورکړي.
اعتماد په حقیقت کې دټولنیز ژوند اساس ګڼل کیږي.
مسلمان باید د خپل توان په اندازه هغه مالونه چې دامانت په توګه دساتنې لپاره ورکول کیږي، په ډیره ښه توګه وساتي په دې پوه یو چې الله تعالی ډیر نعمتونه راکړي دي روغتیا او دځوانۍ عمر دا ټول د الله تعالی امانت دی باید عبث بې ګټې یې تېرنه کړو بلکې ګټه ترې واخلو .
د صداقت او د سالمې ښوونې او روزنې په واسطه د خپل وطن د خدمت لپاره تیاری ونیسو ، او د خپل و طن سره مینه ولرو؛ ځکه وطن زمونږ کور د ی .

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې دامانت دارۍ په هکله په ګروپې ډول بحث وکړي.

ارزونه   څوک کولی شي دامانت دارۍ ګټې ووایي؟

لارښوونه

- ښاغلی ښوونکی دې دامانت دارۍ په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دېرشم لوست

# په اسلام کې د سولې مثال

موخه  د سولې د مفهوم او ارزښت سره آشنايي.
څوک کولی شي د سولې په هکله خپل نظر وواېي؟

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوْا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ    دحجرات سورت آيت ۱۰
ترجمه  بېشکه چې  مؤمنان ټول سره وروڼه دي نو پس سوله او جوړه کوئ تا سې په منځ د ورونو خپلو کې.
په دې پوه يو چې حضرت محمد  صلی الله علیه وسلم  په جزيرة العرب کې زيږيدلی دی. کله چې يې عمر څلويښت کلنی ته ورسيد نو دالله تعالی له خوا په نبوت مبعوث شو. محمد  صلی الله علیه وسلم  خلک يوازې د يوه الله تعالی عبادت، نيکو اخلاقو او انساني سولې ته رابلل، له بت پرستۍ، شرک او ټولو ناروا کارونوڅخه يې منع کول. د عربو خلک چې اسماني دين او انساني اخلاق يې هيرکړي وو؛ د محمد  صلی الله علیه وسلم  په مخالفت يې لاس پورې کړ او په ډول ډول طريقو سره يې محمد  صلی الله علیه وسلم  او دهغه پيروانو ته آزارونه ورکول. چې له امله يې مسلمانان مدينې منورې ته په هجرت کولو مجبور شول. او هلته يې هجرت وکړ. کله چې مکه مکرمه فتح شوه او د مسلمانانو نظام په کې ټينګ شو؛ د مکې کافرانو داسې فکرکاوه چې اوس به محمد صلی الله علیه وسلم  له دوی څخه انتقام اخلي خو حضرت محمد  صلی الله علیه وسلم  داسې وفرمايل  ای قريشو الله  تعالی له تاسې نه د جاهليت خويونه او په پلرونو ، نيکونو  وياړېدنه ايسته کړه تاسې د آدم اولاد او آدم له خاورې  نه پيدا شوی دی . بيا يې د سورت حجرات ۱۳ آيت تلاوت کړ چې    ای خلکو مونږ تاسې له يو نارينه او يوې ښځې  څخه پيدا کړي يئ ، او په طايفو او قبيلو مو  ويشلي ياست، تر څو چې يو تر بله سره و پېژنئ يقينا د الله په وړاندې ستاسې ډېر عزتمن هغه دی چې له خدايه ډېر وېرېږي .
پيغمبر صلی الله علیه وسلم دمکې خلکو ته  وويل  څه فکر کوئ چې زه به له تاسې سره څه و کړم ؟ هغوی وويل  ښه سلوک ، مهربان ورور او د مهربان ورور زوی يې. ويې فرمايل  نن پرتاسې څه مؤاخذه نشته ځئ لاړ شئ ټول ازاد يئ...

هڅوني

- زده کوونکي دې لوست په چوپتيا سره مطالعه کړي.
- د لوست دمحتوی په هکله د  خبرې اترې او مباحثه وکړي.

ارزونه  په اسلام کې سوله څه معنا لري؟
لارښوونه ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته په اسلام کې د سولې د ارزښت په اړه هر اړخيز معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم د ېرشم لوست

# دروغتیا ارزښت په اسلام کې

**موخه** دروغتیا ارزښت سره آشنايي.
څوک کولی شي د روغتیا په هکله په ساده ژبه سره څه ووايي ؟

كُلُواْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُواْ صَالِحاً دالمؤمنون سورت۵۱آیت
ترجمه له پاکو او حلالوشیانو څخه یې وخورئ اونیک عملونه وکړئ
داسلام په روښانه دین کې دلمانځه داداء کولو لپاره اودس فرض دی. اودس دمخ، تر څنګلو پورې ددواړو لاسونو، دسر مسح کولو، او تر ښنګرو پورې د دواړو پښو له مینځلو څخه عبارت دی. مسواک وهل هم سنت دي . همدارنګه دلمانځه داداء کولو لپاره دټول بدن پاکوالی دلمانځه داداء کولو دځای پاکوالی، دجامو پاکوالی هم فرض دی. په اوداسه او غسل کې داوبو پاکوالی هم لازمي دي په دغو ټولو کې روغتیا یې ګټې پټې دي.
همدا راز داسلام دین موږ د ډیر خوراک څخه منع کړي یو ځکه ډیر خوراک د رنګارنګ ناروغیو سبب ګرځي.
دا جوته ده چې د ناپاکو شیانو استعمال دډیرو ناروغیو سبب ګرځي؛ نو د اسلام مبارک دین موږ ته د نظافت په رعایت باندې امر کړی دی او نظافت یې دایمان جزء ګڼلی دی، یعنی له موږ څخه یې غوښتي دي چې نظافت نه یوازې د عبادت د اداء کولو په وخت کې رعایت کړو، بلکې لازمه ده د هغه رعایت په خوړو ، څښاک ، د ژوند په ټولو چارو کې حتی د ژوند د محیط په ساتنه کې هم باید وکړو په یوه مبارک حدیث کې لارښوونه شوې ده اَلطُّهُوْرُ شَطْرُالْاِيْمَانِ پاکي د ایمان جزء برخه ده همدا راز جوته. ده چې د ډیرو ناروغیو اساسي عامل او سبب په ناوړه عادتونو لکه سګرت، چلم، نسوار، چرس، تریاک شراب اونورو باندې عادت کیدل هم دي؛ نو د اسلام روښانه دین د داسې شیانو کارول ناوړه او حرام ګرځولي دي.په یو حدیث مبارک کې ذکر شوي دي عن ابن عمر قال رسول الله ص كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ رواه مسلم
هرنیشه راوړونکی شی حرام دی.

---

**هڅونه**

- زده کوونکي دې د روغتیا دارزښت په هکله په فردي او ګروپي توګه مباحثه وکړي .

**ارزونه** څوک کولی شي چې په اسلام کې د روغتیا د ارزښت مفهوم په ساده ژبه سره ووايي.

لارښوونه: ښاغلی ښوونکی دې دروغتیا ساتنې په هکله زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه دېرشم لوست

# په اسلام کې د شورا ارزښت

**موخه** په فردي او ټولنيز ژوند کې دشورا د ارزښت سره آشنا يي.

د اسلام سپيڅلي دين موږ ته لارښوونه کړې ده، چې په فردي او ټولنيزو چاروکې يو دبل سره مشوره وکړو. په قرآن عظيم الشان کې يو سورت دشورى په نامه سره نومول شوى دى. او په کې د مؤمنانو حال داسې ښودل شوى دى چې يو له بل سره مشوره کوي. (وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ . آل عمران ۱۵۹ آيت.
کوم کارونه چې د خپلو انو، دوستانو، لويانو او پوهانو سره په کې مشوره شوې وي ښې نتيجې ورڅخه ترلاسه کيږي. الله تعالى خپل پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم ته امر کړى دى چې د خپلو اصحابو سره مشوره کوه . داسلام د صدر مسلمانانو په خپلو ټولو فردي او ټولنيزو چارو کې مشوره کوله مشوره ورکوونکو به هم په پوره امانتدارۍ سره خپلې مشورې څرګندولې له دې سببه د دوى ټول کارونه په تاريخ کې ډير روښانه او تر اوسه پورې ورڅخه پيروي کيږي. نو که چيرې خپل کارونه د اسلام د لارښوونې سره سم په مشوره ترسره کړو په يقيني ډول به ښې نتيجې ورڅخه ترلاسه کړو.

---

**هڅونې**

- زده کوونکي دې د شورا د ګټو په هکله مباحثه وکړي .
- زده کوونکي دې د شورا په هکله سوال او ځواب وکړي.

ارزونه

په اسلام کې د شورا مفهوم څه دى؟

لارښوونه

- ښاغلى ښوونکى دې د شورا په باره کې خپل معلومات زده کوونکو ته څرګند کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آته د پرشم لوست

# تعاون مرسته کول

**موخه** دمرستې د مفهوم او ارزښت سره آشنايي.

وَتَعَاوَنُواْ عَلَى الْبرِّ وَالتَّقْوَى دمائده سورت آيت ۲

ترجمه په ښو چارو او تقوا کې يو له بل سره مرسته وکړئ .

دا جوته خبره ده چې د انسان ژوند ټولنيز دی فردي ژوند په حقيقت کې په ټولنيز ژوندپوری اړه لري. او فرد نه شی کولی دټولنې څخه اړيکې پرې کړي او انسان هر څومره چې تمدن ته نږدې شي په هغه اندازه د نورو مرستې ته اړ دی. دا هغه وخت پوره څرګندېږي چې د کليو اود ښارونو د خلکو ژوند ته پوره نظر واچوو. د مثال په توګه که يو دهقان په خپله کرنه وکړي او په خپله ټولې چارې سمبال کړي او خپلې جامې هم د خپلې خمتا څخه جوړې او په تن کړي؛ خپل اولادونه په خپل بڼ او کرونده کې وروزي او د ژوند نور وسايل هم په ابتدايي ډول په خپله تيار کړي خو د ښار اوسيدونکي هم دغه کار او زيارته اړه لري. دوی هم لږ تر لږه دښار د ژوند د خصوصيا تو پيژندنې ته ضرورت لري. نو ګورو چې يوازې ژوند کول ډير کړاوونه لري، د کرنې اسبابو او وسايلو، غنم، ژرندې، پخلي او داسې نورو ته ضرورت لري، د پورتنۍ وينا څخه داسې نتيجه ترلاسه کوو هر کار چې کوو بايد د ټولنې احساس مو په نظر کې وي او وايو چې دا عمل د ټولنې لپاره هم تر سره کوو.

---

**هڅونې**

- زده کوونکي دې د لوست په چوپتيا سره مطالعه کړی.
- زده کوونکي دې د لوست د محتوی په هکله سوال او ځواب وکړي.

**ارزونه**

آيا شاګردان د تعاون په مفهوم پوهيدلي دي؟

**لارښوونه**

- ښاغلی معلم صاحب زده کوونکو ته د تعاون د مفهوم او د انسان په ژوند کې د هغه د اهميت په اړه په تفصيل سره معلومات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه د ېرشم لوست

# عدالت او انصاف

موخه د عدالت او انصاف د مفهوم پيژندل.

عدالت او انصاف د اسلام د سپېڅلي دين د غوره مميزاتو له جملې څخه دي . الله تعالى مسلمانانو ته په عدل او انصاف باندې امر کړی دی چې عدل وکړي . له همدې کبله زمونږ دويم خليفه عمر رض په عدالت کولو مشهور و.

دا چې عدالت په اسلام کې لوړ مقام لري ، رسول الله ص د عادل پاچا لـه پاره د قيامت په ورځ کې د عرش د رحمت د سيوري لاندې د ځای لرلو زيری ورکړی دی . څرنګه چې عدل د پورتنيو فضيلتونو له مخې زيات اجرونه او ثوابونه لري نو لاژمه ده چې د خپل ژوند له پاره يې اصل وګرځوو ، او هميشه پر ې عمل وکړو ، چې الله تعالى، او د هغه رسول ص او ټولو انسانانو ته د قدر وړ وګرځو.

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د عدالت او انصاف په هکله په خپلو منځو کې خبرې وکړي .

**ارزونه**

آيا زده کوونکي د عدالت او انصاف په معني پوهيدلي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلوېښتم لوست

# متمدنه ټولنه

موخه د پر مختللې ټولنې پېژندنه .

متمدنه ټولنه يواځې هماغه ټولنه ده چې افراد يې يوه الله تعالی ته غاړه اېښودونکي وي.

د بندګانو له بندګۍ خلاص او د يوه الله تعالی بندګان جوړ شوي وي .

متمدنه ټولنه هماغه ټولنه کېدای شي چې عقيدوي وحدت په کې د خلکو د راټوليدو اصلي عامل وي، او ژبنی تعصب په کې نه وي ، او د جنس له لحاظه يې تور، سپين ، سور، زيړ، عربي، عجمي په يو داسې امت کې يو ځای کړي وي؛ چې رب يې الله او يواځې د هغه بندګي او عبادت کوي. او تقوی په کې د شخصيت معيار وي .

د متمدنې ټولنې له ځانګړ تياوو څخه داده چې انسان په کې تر هر څه د لوړ ارزښت لرونکی وي ، انساني اخلاق په کې موجود وي د حقوقو مراعات په کې رواج ولري، داسې قانون ولري چې د ښو کارونو د عاملو له پاره د مکافاتو او د بدو د مخنيوي له پاره د مجازاتو فقرې يې تر هرې مادي زيات عملي اړخ ولري .

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د متمدنې ټولنې په هکله په خپلو منځونو کې خبرې وکړي .

ارزونه

ايا زده کوونکو د متمدنې ټولنې ځانګړتياوې زده کړي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ځلوېښتم لوست

## تواضع

**موخه** د تواضع له مفهوم سره آشنايي.

تواضع چې له غوره اخلاقو څخه خورا ارزښتمن خوی دی او د عاجزۍ او د ځان د ټيټ شمېرنې په معنا ده.

الله تعالی د آخرت ښې ګټې د هغه چا لپاره ښودلي دي چې په ځمکه کې لويي او فساد نه کوي.

عاجزي حق ته تسليمېدل او د زړه له کومي د هغه منل دي.

معلومه ده چې د حق پر ځاي کول پوره دين ته د عملي ښې ورکولو برابر دي.

تواضع او عاجزي کوونکي هر چاته ګران او په زړه کې ورته نږدې وي، له مسکينانو، او بې وزلو سره ښې اړيکې ساتي، د نورو خدمت کوي او په خدمت کولو ځان ورته بد نه ښکاري، ځکه خو الله تعالی خپل ګران پيغمبر ص ته امر کوي چې د مهربانۍ وزرونه خپلو منونکو مؤمنانو لپاره وغوړوه.

عبدالله ابن مبارک رح وايي عاجزي داده چې خپل ځان د هغه چا مساوي وګڼې، څوک چې د دنيا په نعمتونو کې تر هغه کم وي، او دا يې باور وي چې دی د دنيا له پلوه پر هغه غوره نه دی، همدا راز ځان له هغه چا سره يو شان وګڼي. څوک چې په دنيوي شيانو کې تر هغه پورته وي په دې آند چې د دنيا له پلوه هغه له ځان څخه پورته ونه شماري.

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د تواضع په هکله په خپلو کې سره خبرې وکړي .

**ارزونه**

آيا زده کوونکي د تواضع له مفهوم سره آشنا شوي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ځلويښتم لوست

## پوهنه

موخه د پوهنې په ګټو پوهيدل .

تر ټولو هغه غوره او مهمه وسيله ، چې د اخلاقو په سمون کې لويه برخه لري، پوهنه او روزنه ده .

پوهنه انسان ته د اخلاقو په هکله دقناعت وړ معلومات ورکوي او د سالمې روزنې په واسطه اخلاق د عمل په ډګر کې په تمرين کولو سره د انسان عادت جوړيږي.

پوهنه انسان ته د سپيڅلو اخلاقو د خپلولو اوله بدو اخلاقو څخه د ژغورنې وسله په لاس ورکوي ، د پو هنې په وسيله غوره اخلاق او ګټې يې او همدا راز ناوړه اخلاق او له هغو څخه را ولاړيدونکي زيانونه پيژندل کيږي .

قرآن کريم د اخلاقو تر ټولو ښکلې مجموعه ده او د رسول الله ص سنت او د هغه مبارک سيرت د اخلاقو په اړوند د پوهې يوا ځينی مصدر دی. روزنه، د اخلاقو په عملي تکرار د انسان شخصيت جوړوي او د استادانو ، د کورنۍ د غړو ، ګاونډيانو، ټولګيوالو، د کوڅې، کلي او ښار د خلکو د کړو وړو په ليدو سره پياوړی کيږي.

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د پوهنې د ګټو په اړوند په ډله ييزه توګه خبرې وکړي .

**ارزونه**

آيا زده کوونکي د پوهنې د ګټو په اړوند په څه پوهيدلي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې څلويښتم لوست

# رښتيا ويل

موخه له رښتيا ويلو سره د زده کوونکو آشنايي.

په رښتيا ويلو هميشه والی د اخلاقو تر ټولو مهمه ريښه ده .

هغه انسان چې دتل له پاره په ژوند کې رښتيا ويونکی وي د صديقينو مقام ته رسيږي .

ښه اخلاق ټول او په ځانګړي ډول رښتياويل په ټولنه کې د انسان د درنښت لامل جوړيږي . هم به د څښتن تعالی په وړاندې او هم به په خلکو کې د خاص موقف لرونکی وي ، د اسلام ستر پيغمبر محمد ص په يوه حديث کې وايي رښتيا له لاسه ورنه کړئ ځکه چې رښتيا نيکي کولو ته لار جوړوي او نيکي کول جنت ته لار پرانيزي ، او څوک چې د تل له پاره رښتيا وايي او رښتياويل خپل عادت جوړوي هرو مرو يې څښتن تعالی د صديقينو په شمير کې راولي. او له دروغو څخه ځان و ژغورئ ځکه چې د دروغو ويلو پای بدکاري ده. او بدکاري هر انسان د دوزخ اور ته رسوي، څوک چې هميشه دروغ وايي او دروغ ويل خپل عادت جوړوي، د الله تعالی په وړاندې به په درواغ ويونکو کې حساب شي .

---

**هڅونه**

زده کوونکي دې د رښتيا ويلو په باره کې يو له بل سره مباحثه وکړي .

**ارزونه**

آيا زده کوونکو د رښتيا ويلو ګټې زده کړې دي؟

ښاغلی ښوونکی زده کوونکو ته د رښتيا ويلو د ګټو په باره کې معلومات ورکړئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلور څلويښتم لوست

# غوره چلند

**موخه** په زده کوونکو کې د مطالعې د قوې پيداکول .

مخکې مو وويل چې د نبي اکرم صلى الله عليه و سلم سنت او سيرت د نيکو اخلاقو د غوره بنستهونو له جملې څخه دي ، اوس ځينې داسې حديثونه ذکر کوو چې په هغو کې ځينو ارزښتناکو مسئلو ته پکې اشاره شوې وي

## ١ د ټولنې د وګړو غوره اخلاق

**قال رسول الله** صلى الله عليه وسلم :مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ **متفق عليه** .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : د يو چا ښه مسلماني دا ده، څه چې د ده له پاره مهم او مطلوب نه وي هغه پرېږدي.

## ٢ـ په ژبه او لاس چاته ضرر نه رسول:

**قال رسول الله صلى الله عليه وسلم** :

( **الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ**)رواه مسلم .

ژباړه : رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي:

**کامل مسلمان هغه څوک دی چې د لاس او ژبې له ضرر څخه يې خلک په امن وي .**

## ٣ـ مهرباني لرل:

**قال رسو ل الله** صلي الله عليه وسلم :

(**مَنْ يُحْرَمُ الرِّفْقَ يُحْرَمْ الْخَيْرَ**) رواه مسلم .

ژباړه : رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :

**هغه څوک چې مهرباني نه لري له خير څخه بې برخې دي . يعنې هغه څوک چې نرمي او زړه سوی ونه لري نو ده ته به هم هيڅ ډول خير ونه رسيږي .**

ښاغلی ښوونکی ! تاسو کولای شئ چې پورتنيو لوستونو ته (مبارکو حديثو ته) له لنډې توضيح وروسته لنډ او مختصر فعاليتونه وټاکئ تر څو د زده کوونکو ورتيا او عمومي معلومات وازمويئ .

يا الله ! مونږ ته په دنيا او آخرت کې نيکي په نصيب کړې او مونږ د دوزخ له عذاب څخه وساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تمرین

۱. اخلاق تعریف کړئ .
۲. د اخلاقي فضایلو په باره کې خپل معلومات وړاندې کړئ.
۳. د اخلاقو د ارزښت په باره کې په مفصل ډول معلومات ورکړئ .
۴. د امانت او په عهد باندې د وفا په هکله معلومات ورکړئ .
۵. په اسلام کې د سولې د ارزښت په هکله یو نقلي دلیل وړاندې کړئ .
۶. څوک کولای شي چې په اسلام کې د روغتیا د ارزښت په هکله په خپله ژبه سره خبرې وکړي ؟
۷. په اسلام کې د شورا اهمیت څه دی ؟ هغه بیان کړئ .
۸. په اسلام کې تعاون او مرسته څه مفهوم لري؟
۹. د متمدنې ټولنې په هکله څه ویلای شئ؟
۱۰. څوک کولای شي د تواضع مفهوم روښانه کړي؟
۱۱. په فردي او ټولنیز ژوند کې د رښتیا ویلو د اهمیت په هکله مفصل معلومات وړاندې کړئ .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**